بسم الله الرحمن الرحيم

أَلحَمْدُ للّه رَبِّ الْعَالَمِينْ وَالصَّلَاةُ وَالسَّلَامُ عَلَى
سَيِّدِالْمُرْسَلِينْ وَعَلَى آلِهِ وَ أَصْحَابِهِ أَجْمَعِينْ.

# د لوړو زده کړو وزارت

ژمنۍ فصلنامه – دویمه ګڼه- لومړی کال ۱۴۰۲هـ ش/ ۱۴۴۵هـ ق/ 2023م


د امتیاز خاوند

د لوړو زده کړو وزارت

مسؤل مدیر

حافظ انجنیر روح الله روحاني

د تحریر هیئت

- عبدالنافع زاهد
- عبدالحنان عزیزي
- حمد الله محب زی

ایډیټوران

- جاوید حکمت
- مشعل پویا

خبریالان

- کاوون رمز
- محب الله امیري
- الفت الله حلیم

ترتیب

- محمد اسحاق معصومي

ډیزاین

- عنایت الله حنیفي
- عبدالهادي قدیري

انځورګران

- احمد سیر معرفت
- سید ناصر وفامل


## په دې ګڼه کې


**لومړۍ برخه**

**د لوړو زده کړو سرپرست وزیر د سفرونو، غونډو او لیدنو راپورونه**

**دویمه برخه**

**د معینانو د سفرونو، غونډو او لیدنو راپورونه**

**دریمه برخه**

**د مرکزي ریاستونو د رئیسانو د غونډو، سفرونو او لیدنو راپورونه**

**څلورمه برخه**

**د لوړو زده کړو وزارت د ژمي فصل لاسته راوړنې**



mohe.gov.af

mohe.af

afmohe

Af_mohe

af_mohe

af_mohe

@afmohe

info@mohe.gov.af

+93(020)2500 325

څلورمه کارته- کابل - افغانستان

# لومړی برخه

# د لوړو زده کړو وزارت سرپرست وزیر د سفرونو، غونډو او لیدنو راپوړونه


سریزه ........ ۱
سرپرست وزارت تحصیلات عالی در مراسم فراغت جامعه امام ابوحنیفه (رحمة الله علیه) شرکت کرد ........ ۳
د لوړو زده کړو سرپرست وزیر له افغان نړیوال اسلامي پوهنتون څخه لیدنه وکړه ........ ۳
د لوړو زده کړو سرپرست وزیر د کابل پولي تخنیک پوهنتون د علمي شورا له غړو سره وکتل ........ ٤
د لوړو زده کړو سرپرست وزیر د عمریه او قاسمیه مدرسو په دستاربندیو کې ګډون وکړ ........ ٥
د فریلانسینګ تخصصي پروګرام څخه ۴۴ تنه فارغ شول ........ ٥
د لوړو زده کړو وزارت رهبري شورا ناسته وشوه ........ ٦
سرپرست وزارت تحصیلات عالی از مؤسسه تحصیلات عالی لوګر دیدن کرد ........ ٦
د لوړو زده کړو سرپرست وزیر د عربي ژبې انستیتوټ په فراغتغونډه کې ګډون وکړ ........ ٧
د لوړو زده کړو سرپرست وزیر د پوهنې وزارت په ورکشاپ کې ګډون وکړ ........ ٨
آزمون تقریری بست های کادر علمی ثقافت اسلامی اخذ شد ........ ٩
د عبدالله بن مسعود رضی الله عنه جامعې علمي شورا ناسته وشوه ........ ٩
سرپرست وزیر تحصیلات عالی با آمران دیپارتمنت های پوهنتون تعلیم و تربیه کابل دیدار کرد ........ ١٠
د لوړو زده کړو سرپرست وزیر بغلان ولایت ته سفر وکړ ........ ١١
د لوړو زده کړو سرپرست وزیر د ترکیې له شارژدافیر سره وکتل ........ ١١
سرپرست وزیر تحصیلات عالی از مؤسسه تحصیلات عالی سمنګان دیدن کرد ........ ١٢
لوړو زده کړو سرپرست وزیر د بغلان ولایت جامعه دارالعلوم حقانیه مدرسې د دستاربندۍ په مراسمو کې ګډون وکړ ........ ١٢
سرپرست وزارت تحصیلات عالی به ولایت جوزجان سفر کرد ........ ١٣
د دیني علماء کرامو عالمیه، عالیه او ثانویه کلنۍ ازموینې پیل شوې ........ ١٣
د بلخ او کندز جامعاتو لپاره د استادانو ګمارنې ازموینه واخیستل شوه ........ ١٣
د هېواد په ۳۴ ولایتونو کې د دیني مدارسو د کلنۍ ازموینې دویمه ورځ پای ته ورسېده ........ ١٤
سرپرست وزارت تحصیلات عالی به ولایت فاریاب سفر کرد ........ ١٤
کنفرانس ملی بهبود نهاد های تعلیمی و تحصیلی افغانستان در پوهنتون تعلیم و تربیه کابل برګزار شد ........ ١٥
سرپرست وزارت تحصیلات عالی از جریان امتحان مدارس دینی ولایت بلخ دیدن کرد ........ ١٦
د دیني مدارسو کلنۍ ازموینې په بریالۍ توګه پای ته ورسېدې ........ ١٦
از فراغت دور دوم فاضلان جامعه عبدالله بن مسعود (رضی الله عنه) تجلیل بعمل آمد ........ ١٧
په کندهار پوهنتون کې د ۲۵٫۵ میلیونه افغانیو په لګښت دوې پروژې پرانیستل شوې ........ ١٧
د کندهار (جامعه دارالعلوم حکیمیه) مدرسې څخه ۳۳۰ تنه فارغ شول ........ ١٨
از فراغت فاضلان جامعه ابراهیم النخعی تجلیل بعمل آمد ........ ١٨
په هلمند پوهنتون کې د ٦٠ میلیونه افغانیو په ارزښت ١٠ پروژې پرانیستل شوې ........ ١٩
به منظور تقرر استادان برای جامعه دینی هلمند امتحان اخذ شد ........ ١٩
د لوړو زده کړو وزارت رهبري شورا ناسته وشوه ........ ٢٠
د لوړو زده کړو سرپرست وزیر د جاپان له سفیر سره وکتل ........ ٢٠
سرپرست وزارت تحصیلات عالی با سفیر چین دیدار کرد ........ ٢١

د ننگرهار ديني جامعې لپاره د استادانو گمارنې ازموينه واخيستل شوه ............ ۲۱
کنفرانس بین المللی تغییر اقلیم در پوهنتون ننگرهار برگزار شد............ ۲۲
په ميدان وردگ لوړو زده کړو مؤسسه کې لس پروژې پرانيستل شوې ............ ۲۳
د دعوت او ارشاد رياست مبلغينو لپاره اصلاحي سمينار داير شو............ ۲۳
ورکشاپ پنج روزه آموزشی امور مالی و تدارکاتی برگزار شد ............ ۲٤
پنځه ورځنی مالي او تدارکاتي ورکشاپ پای ته ورسېد ............ ۲٥
سمینار اصلاحی ۱۵ روزه برای محصلان خاتمه یافت ............ ۲٥
د خصوصي تحصيلي بنسټونو کمېسيون ناسته وشوه............ ۲٦
شورای علمی پوهنتون علوم طبی کابل داير گرديد............ ۲٦
د کابل جامعة الايمان مدرسې فراغتغونډه وشوه ............ ۲۷
د ۵۱ زره علماء کرامو د عالمیې مرحلې (ماسټري) اسنادو د ارزونې ازموينه واخيستل شوه............ ۲۷

## سریزه

د لوړو زده کړو وزارت رهبري پلاوي د ۱۴۰۲ هجري لمريز کال د مرغومې، سلواغې او کب په مياشتو کې د هېواد په کچه د تحصيلي بنسټونو د ودې او پرمختګ په برخه کې په بېلابېلو برخو کې د پام وړ لاسته راوړنې لرلې دي.

په دې فصل کې د لوړو زده کړو وزارت سرپرست وزير شيخ الحديث مولوي نداء محمد نديم د هېواد د شمال زون ډېرو ولايتونو ته د خپلو منظمو پروګرامونو په لړ کې سفرونه وکړل، د هېواد د لوړو زده کړو تحصيلي بنسټونو ستونزې او اړتياوې يې له نږدې وارزولې، د دوی بېړنۍ اړتياوې او ستونزې يې هوارې او د نورو ستونزو د حل په موخه يې دوی ته د همکارۍ ډاډ ورکړ چې په نږدې راتلونکې کې به د تحصيلي بنسټونو ټولې ستونزې په بشپړه توګه حل کړي.

د دې سفرونو په دوام کې د لوړو زده کړو سرپرست وزير د تحصيلي بنسټونو او ديني مدارسو د ليدنې ترڅنګ د اړوندو ولايتونو له مشرانو، ديني عالمانو، قومي مشرانو، استادانو او محصلينو سره هم وکتل چې نوموړو مشرانو او استادانو د تحصيلي بنسټونو پر وړاندې د لوړو زده کړو سرپرست وزير له لويې حوصلې او ښه احساس څخه خوښي وښوده او د نوموړي دغه اقدام يې وستايه.

همدارنګه سرپرست وزير کندهار ولايت ته سفر وکړ او د عالمي دورې (ماستري) اسنادو د ارزونې له بهير څخه يې ليدنه وکړه.

په همدې ډول د لوړو زده کړو وزارت معينانو هم د خپلو منظمو پلانونو او پروګرامونو سره سم، د تحصيلي بنسټونو د وضعيت ارزونې او ښه والي په موخه بېلابېلو ولايتونو ته سفرونه وکړل، چې د دې سفرونو په بهير کې د هېواد په تحصيلي بنسټونو کې يو لړ مهمې پروژې افتتاح او ګټې اخيستنې ته وسپارل شوې.

دغه راز معين صاحبانو د هېواد مختلفو زونونو ته هم سفرونه وکړل او د علماء کرامو د عالمي دورې د اسنادو د ارزونې له پروسې څخه يې څارنې وکړې.

د لوړو زده کړو وزارت د رهبري پلاوي نه ستړې کيدونکې هلو ځلو او لاسته راوړونو ته په کتو د ا.ا.ا مشرتابه د يادو لاسته راوړنو د ستاينې تر څنګ؛ دلوړو زده کړو وزارت ټولې غوښتنې او وړانديزونه منلي دي.

په دغو درېيو مياشتو کې د لوړو زده کړو وزارت د هېواد د تحصيلي بنسټونو د پياوړتيا او پراختيا په موخه د کندهار، هرات، هلمند، ننګرهار او وردګ لوړو زده کړو په بنسټونو کې بېلابېلې پروژې پرانيستي او ګټې اخيستنې ته يې سپارلې دي.

لوړو زده کړو وزارت همدارنګه د علماء کرامو د اسنادو د ارزونې په موخه په ټول هېواد کې ازموينه اخيستې او په همدې ډول په دې فصل کې دغه وزارت د جامعاتو او ديني

تخصصاتو ریاست د افتاء او قضاء له څانګو څخه هم ځوان کادرونه تولنې ته د خدمت لپاره وړاندې کړې دي.

دغه وزارت همدارنګه د امارتي تحصیلي بنسټونو د نشراتو د څانګې د تجهیز او پیاوړتیا په موخه ویډیویي کامرې پېرلي دي.

نړۍ کې وروستیو تحولاتو او پرمختګونو ته په کتو، د افغانستان اسلامي امارت په څانګړې ډول د لوړو زده کړو وزارت په هېواد کې د دیني او عصري علومو د پراختیا او پرمختیا غوښتونکی دی چې د اقلیم د بدلون په اړه د نړیوال کنفرانس جوړول او د امارتي او خصوصي لوړو زده کړو بنسټونو نورو برخو ته د لازمو اسانتیاوو برابرول د دې ادعا ثبوت دی.

لوړو زده کړو وزارت د خصوصي لوړو زده کړو بنسټونو د ملاتړ، پیاوړتیا او پرمختګ په برخه کې له هیڅ ډول هڅو سپما نه ده کړې او تل یې د دوی غوښتنو او وړاندیزونو ته پرته له ځنډه ځواب ویلی دی.

د لوړو زده کړو وزارت رهبري پلاوي د سیمې او نړۍ له هېوادونو سره د ښو اړیکو د ټینګښت په موخه د بېلابېلو سفارتونو له استازو سره ناستې لرلې. سرپرست وزیر د چین، ترکیې او جاپان هېوادونو له سفیرانو سره وکتل او د هېواد د تحصیلي بنسټونو د پرمختګ په برخه کې یې خپلې لازمې غوښتنې له هغوی سره شریکې کړې او یادو سفیرانو د لوړو زده کړو وزارت د نیک چلند څخه د خوښۍ تر څنګ یې د همکاریو ژمنې کړې دي.

په درنښت

د اطلاعاتو، نشراتو او عامه اړیکو ریاست

# سرپرست وزارت تحصیلات عالی در مراسم فراغت جامعه امام ابوحنیفه(رحمة الله علیه) شرکت کرد

سرپرست وزارت تحصیلات عالی در مراسم دور۲۹ دستار بندی فارغ التحصیلان دوره حدیث و حفاظ کرام جامعه امام ابوحنیفه (رحمة الله علیه) اشتراک کرد.

شیخ الحدیث مولوی نداء محمد ندیم سرپرست وزارت تحصیلات عالی در مراسم که به این منظور دایر شد، فراغت فارغان یاد شده را تبریک گفته، پیرامون مسوولیت ها و مکلفیت های علما و فاضلان در جامعه اسلامی به ویژه افغانستان، صحبت کرد.

وی اضافه کرده گفت: « علما در هر زمان و مکان مکلفیت های خاصی را به دوش دارند. در شرایط فعلی که دسایس دشمنان دین و مردم از هر جانب متوجه افغانستان می باشد علماء مسوولیت دارند تا از دین، عقاید و ارزش های ملی کشور شان دفاع و مردم را به راه نیک هدایت کنند».

سرپرست وزارت تحصیلات عالی همچنان گفت که امارت اسلامی افغانستان به تقویت علم و مراکز علمی متعهد بوده و در قسمت تنظیم و ترتیب امور مدارس و جامعات، برنامه های نیز روی دست دارد که مرحله به مرحله تطبیق خواهد شد.

موصوف علاوه کرده گفت که در آینده فاضلان، مفتی ها و طلبای کرام ما که در هر بخش تحصیل کرده باشند؛ بعد از امتحان برای شان اسناد تحصیلی داده خواهد شد و در این بخش نظم به میان خواهد آمد.

همچنان در این مراسم قاری فصیح الدین فطرت لوی درستیز وزارت دفاع ملی نیز در رابطه به نقش علما در آزادی و دعوت مردم به راه نیک صحبت نموده گفت که بعد از حاکمیت امارت اسلامی افغانستان در هرگوشه و کنار کشور، به علما و مدارس دینی توجه شده و محافل دستاربندی برگزار می گردد که این همه نتیجه و ثمره جهاد مردم افغانستان می باشد.

به همین ترتیب در این مراسم سایر سخنرانان در مورد فضیلت علم و دانش، وحدت و همبستگی مسلمانان جهان و تشویق جوانان کشور به آموزش و فراگیری علم و دانش دینی و عصری صحبت کردند.

قابل ذکر است که از دور۲۹ دستاربندی فارغ التحصیلان دوره حدیث و حفاظ کرام جامعه امام ابوحنیفه (رحمة الله علیه)، ۱۴۰ تن فارغ و به جامعه تقدیم شدند.

۱۴۴۵/۶/۹هـ.ق ۱۴۰۲/۱۰/۲هـ.ش ۲۰۲۳/۱۲/۲۳

# د لوړو زده کړو سرپرست وزیر له افغان نړیوال اسلامي پوهنتون څخه لیدنه وکړه

د لوړو زده کړو سرپرست وزیر شیخ الحدیث مولوي نداء محمد ندیم صاحب له افغان نړیوال اسلامي پوهنتون څخه لیدنه وکړه.

د لوړو زده کړو سرپرست وزیر د افغان نړیوال اسلامي پوهنتون له مشرتابه پلاوي، پوهنځیو رئیسانو او استادانو سره په ناسته کې د هغوی ستونزې او وړاندیزونه واورېدل. نوموړي د هغوی فعالیتونه وستایل او وړاندیزونه یې ورته منظور کړل.

د لوړو زده کړو سرپرست وزیر د افغان نړیوال اسلامي پوهنتون مشرتابه ته سپارښتنه وکړه چې په هېواد کې دننه نوري د ماسټري او دوکتورا برنامې ایجاد کړي. دغه راز ډاډ یې ورکړ چې د فوق لیسانس برنامو په ایجاد، د محصلینو او استادانو لپاره د معیاري لوړو زده کړو زمینې برابرولو په برخه کې یې هر ډول ملاتړ کوي او اسانتیاوې به ورته برابروي .



۱۴۴۵/٦/۱۱هـ.ق ۱۴۰۲/۱۰/۴هـ.ش ۲۰۲۳/۱۲/۲۵



## د لوړو زده کړو سرپرست وزیر د کابل پولي تخنیک پوهنتون د علمي شورا له غړو سره وکتل

د لوړ زده کړو سرپرست وزیر د کابل پولي تخنیک پوهنتون د علمي شورا له غړو او د ځانګو له امرینو سره په جلا جلا ناستو کې وکتل.

په پیل کې د کابل پولي تخنیک پوهنتون د علمي شورا غړو د لویې جرګې خیمه کې د غونډو پر مهال د محصلینو د رخصتېدو، په یاد پوهنتون کې د ۳۰۰ بستریز روغتون د تېر شوي سړک او ملي تدارکاتو انستیتوت موجودیت، د ټولګیو او کتابتون لپاره د معیاري ودانیو د کمبود ستونزې شریک کړې. همدا راز وړاندیز یې وکړ چې د هېواد په سترو او کوچنیو پروژو کې د دغه پوهنتون له استادانو سره مشورې وشي او د محصلینو د عملي کارونو لپاره لا زیات فرصتونه رامنځ ته شي .د علمي شورا غړو زیاته کړه چې کابل پولي تخنیک پوهنتون د فوق لیسانس نویو برنامو د ایجاد لپاره د شرایطو په برابرولو کار کوي .

وروسته د لوړو زده کړو سرپرست وزیر شیخ الحدیث مولوي نداء محمد ندیم صاحب د کابل پولي تخنیک پوهنتون مسؤلینو ته د یادو ستونزو د حل ډاډ ورکړ او ویې ویل: «د رئیس الوزراء د حکم پر اساس به تر دې وروسته کوچنۍ ناستې د لویې جرګې په خیمه کې نه جوړېږي او د محصلینو په درسونو کې به ځنډ نه راځي.» دغه راز د یاد پوهنتون مسؤلینو ته یې ډاډ ورکړ چې د ۳۰۰ بستریز روغتون او ملي تدارکاتو اړوند ستونزو په اړه به له مسؤلینو سره خبرې وکړي.

ښاغلي وزیر د پولي تخنیک پوهنتون مسؤلینو له لوري د فوق لیسانس برنامو د ایجاد هڅې او د استادانو د زیات تدریس ستاینه وکړه او په دې برخو کې یې د هر ډول اسانتیاوو برابرولو ډاډ ورکړ .

د لوړو زده کړو سرپرست وزیر د کابل پولي تخنیک پوهنتون علمي شورا غړو سره ژمنه وکړه چې د ا.ا.ا له سکتوري وزارتونو او ادارو سره به د هغوی اړیکې جوړوي او د دوی له استعدادونو به د هېواد په اساسي رغونه کې ګټه اخلي .

همدارنګه د لوړو زده کړو سرپرست وزیر د ځانګو له امرینو سره په جلا ناسته کې د هغوی ستونزې او وړاندیزونه واورېدل او سپارښتنه یې ورته وکړه چې له استادانو او محصلینو سره ښه چلند وکړي، د استادانو او محصلینو ستونزې حل او یووالي ته یې راوبولي .

د یادونې وړ ده چې کابل پولي تخنیک پوهنتون ۸ پوهنځۍ او ۳۲ ډیپارټمنټونه لري، چې هر کال سلګونه انجنیران ټولنې ته د خدمت لپاره وړاندې کوي.

۱۴۴۵/٦/۱۲هـ.ق ۱۴۰۲/۱۰/۵هـ.ش ۲۰۲۳/۱۲/۲٦

# د لوړو زده کړو سرپرست وزیر د عمریه او قاسمیه مدرسو په دستاربندیو کې ګډون وکړ

د لوړو زده کړو سرپرست وزير د عمريه او قاسميه مدرسو د لويې دورې او حافظانو د دستاربندۍ په مراسمو کې ګډون وکړ.

د لوړو زده کړو سرپرســـت وزير شـيخ الحديث مولوي نداء محمد نديم صـاحب په يادو مراسـمو کې د طلباء کرامو او حافظانو په فراغت خوښـي وښـوده او د دوی پر مکلفيتونو او مسووليتونو يې خبرې وکړې او و يې ويل: « په اوس عــصر کې د علماوو تر ټولو مهمه دنده د دين اظهار دی؛ ترڅو دين تر ټولو ورســـوي او دا دنده له پيغمبرانو ورته په ميراث پاتې ده.»

همدارا‌ز د ديني علومو پر ارزښـــت ټينګار وکړ او زياته يې کړه چې خلکو ته د خدمتونو وړانـدې کولو لپاره پوهه او علم اړين دی؛ ترڅو د هغه په رڼا کې خپلې کړنې ترسره کړي.

دغه راز يې د احياء اسلام پر موضوع رڼا واچوله او وروسته له فتحې يې د علماوو له ســترو مکلفيتونو يو ياد کړ او ويې ويل چې په ټولنې کې د اسـلامي شـعايرو راژوندي کول، د جهادي روحيې ســـاتل، د دين حاکميت او نور اســـلامي احکامو تطبيق د اسلام احيا ده.

وروسته د قاسميه مدرسـې د فراغت په غونډې کې د کانونو او پټروليم وزارت سرپرســـت مولوي شـهاب الدين دلاور ياد شـوي فارغين د لا زياتو علومو او پوهې زده کړې ته وهڅول او د مدرســې له مســوولينو يې وغوښـتل چې د مدرسـې د طلباء کرامو ظرفيت لوړوني او زده کړې ته ځانګړې پاملرنه وکړي.

په پـای کې فـارغو شـــويو طلبـاء کرامو او حـافظـانو تـه د دستارفضيلت پګړې ور په سر شوې.

د يـادوني وړ ده، چې د لوړو زده کړو سرپرســـت وزير د مدارسو د فاضلانو سره څه تعداد نغدي مرسته هم وکړه.

۱۴۴۵/٦/۱۳هـ.ق ۱۴۰۲/۱۰/٦هـ.ش ۲۰۲۳/۱۲/۲۷

# د فريلانسينګ تخصصي پروګرام څخه ۴۴ تنه فارغ شول

د لوړو زده کړو سرپرســـت وزير د اطلاعاتو او کلتور وزارت د ځوانانو چارو معينيت له لوري د فريلانسينګ تخصصـــي پروګرام څخه د ۴۴ تنو متخصــصــينو په فراغتغونډه کې ګډون او وينا وکړه.

په ياد پروګرام کې د اطلاعاتو او کلتور وزارت، د تخنيکي او مسـلکي زده کړو اداري، د خصـوصي او امارتي تحصـيلي بنسټونو او د خصوصي شرکتونو استازو ګډون کړی و.

په همدې مناسبت فراغتغونډه کې د لوړو زده کړو سرپرست وزير شـــيخ الحديث مولوي نداء محمد نديم صـــاحب د ځوانانو پر ځواک او مســؤليتونو خبرې وکړې او ويې ويل: «ځوانان ډېره انرژي، د ديني او عصري زده کړو لپاره فکري او بدني قوت لري.»

نوموړي زياته کړه چې موږ له پوهنتونونو څخه د فارغېدونکو محصـلينو لپاره د کاري فرصـتونو په لټه کې يو او د هغوی لپاره مو د کارمونديې په برخه کې همبشه له نورو وزارتونو او ادارو څخه د همکارۍ غوښتنې کړې دي.

د لوړو زده کړو سرپرســـت وزير د خپلو خبرو پر دوام د اسلامي نظام مکلفيتونو ته اشاره وکړه او ويې ويل چې نظام بايد د خپلو خلکو امنيت او عزت وساتي، تر منځ يې عدالت تأمين کړي او د ژوند اسانتياوې ورته برابرې کړي.

همدارنګه د اطلاعاتو او کلتور سرپرســـت وزير ملا خيرالله خيرخواه په هېواد کې پر روانو چارو خوښـــې وښـــوده او له ځوانانو يې وغوښـــتل چې د خپل هېواد د آبادۍ لپاره په اخلاص کار وکړي.

دغـه راز د اطلاعـاتو او کلتور وزارت د ځوانـانو چـارو معين قاري محمد يونس راشــد، د تخنيکي او مســلکي زده کړو اداري رئيس مولوي غلام حيدر شــهامت او د يو شــمېر خصـوصي شرکتونو استازو په انلاين ډول د کار کولو پر ګټو او په هېواد کې يې د فريلانســينګ پروګرامونو پر ايجاد خبرې وکړې.

د يادوني وړ ده چې په دغه دري مياشتني پروګرام کې ۴۴ تنو تخصـــصـــي- زده کړې وکړې او له فراغت وروسته به د هېواد په ټولو زونونو کې ځوانانو ته د فريلانســينګ په برخو کې زده کړې ورکوي.

۱۴۴۵/٦/۱۴ هـ ق ۱۴۰۲/۱۰/۷ هـ ش ۲۰۲۳/۱۲/۲۸م

# د لوړو زده کړو وزارت رهبري شورا ناسته وشوه




د لوړو زده کړو وزارت رهبري شورا ناسته، د دغه وزارت سرپرست وزیر په مشرۍ تر سره شوه.

په پیل کې د لوړو زده کړو سرپرست وزیر شیخ الحدیث مولوي نداء محمد ندیم صاحب د هېواد د تحصیلي ډګر په پرمختګ کې د اسلامي امارت د رهبرۍ او کابینې غړو له ملاتړ او همکاریو څخه مننه وکړه او ویې ویل چې مشرتابه په هېواد کې د تحصیل د کیفیت لوړولو او پرمختګ په برخه کې زموږ ټولي غوښتنې منلي دي.

نوموړي په لوړو زده کړو وزارت کې رواني تحصیلي او زیربنایي چارې ښې و ارزولې او په دې برخه کې یې د رهبري شورا غړو د هڅو ستاینه وکړه او هغوی یې لا زیات خپلو کارونو ته متوجه کړل.

همدارنګه د لوړو زده کړو وزارت رهبري شورا غړو ته د دغه وزارت د دعوت او ارشاد رئیس شیخ شاکرالله وحدت په اصلاحي بیان کې په کارونو کې د ښه نیت او اخلاص پر ارزښت او ګټو خبرې وکړې.

دغه راز د تېرې شورا پرېکړو ته لنډه کتنه وشوه او د شویو کارونو راپور واورېدل شو.

وروسته له اجنډا سره سم د پوهنتونونو د تشکیل معیاري کېدو کمېټې پر راپور، د پوهنتونونو او نورو ادارو تر منځ د هوکړو طرزالعمل جوړولو، د محصلینو له لوري د اسلامي امارت د ادارو لپاره د سیستمونو جوړولو پر طرحې او د استادانو د ترفیعاتو اړوندو یو شمېر موضوعات بحث او لازمې پرېکړې وشوې.

۱۴۴۵/٦/۱۴هـ.ق ۱۴۰۲/۱۰/۷هـ.ش ۲۰۲۳/۱۲/۲۸

# سرپرست وزارت تحصیلات عالی از مؤسسه تحصیلات عالی لوگر دیدن کرد

سرپرست وزارت تحصیلات عالی ضمن اشتراک در جلسه شورای علمی مؤسسه تحصیلات عالی لوگر ازبخش های مختلف این نهاد تحصیلی دیدن کرد.

سرپرست وزیر تحصیلات عالی در جریان سفر رسمی خویش به ولایت لوگر، مشکلات و پیشنهادات استادان و مسوولان مؤسسه تحصیلات عالی لوگر را در جلسه شورای علمی این نهاد علمی استماع نمود.

موصوف در این جلسه ضمن تاکید روی ارتقای ظرفیت استادان، از تلاش های مسوولین و استادان این نهاد در حصه ارتقای مؤسسه به پوهنتون ستایش نموده وعده سپرد که با تکمیل شرایط، این نهاد علمی را به پوهنتون ارتقاء میدهد.

سرپرست وزارت تحصیلات عالی همچنان در قسمت ساخت مسجد، سرک های داخلی، هموار کاری محوطه، تالار جلسات، کتاب خانه، طعام خانه و تجهیز لابراتوار و حل سایر مشکلات وعده همکاری سپرده به مسؤلین مؤسسه متذکره هدایت سپرد تا روی نیازمندی های عاجل کار شان را آغاز نمایند.

وی همچنان از بخش های مختلف این موسسه دیدار کرده و به مسوولین در قسمت کار های زیربنایی راهنمایی های لازم نمود.

هکذا هیئت رهبری این موسسه چاپ شماره نخست مجله علمی این نهاد تحصیلی را به سرپرست وزیر تحصیلات عالی هدیه نمودند.

قابل یاد آوری است که موسسه تحصیلات عالی لوگر داری چهار پوهنځی می باشد که شامل زراعت، تعلیم و تربیه، جیولوجی معدن و شرعیات می‌شود و سالانه صدها تن اشخاص مسلکی را جهت خدمت به جامعه تربیه می نماید.

۱۴۴۵/٦/۱۹هـ.ق ۱۴۰۲/۱۰/۱۲هـ.ش

# د لوړو زده کړو سرپرست وزير د عربي ژبې انستيټيوټ په فراغتغونډه کې ګډون وکړ



د لوړو زده کړو سرپرست وزير د ارشاد، حج او اوقافو وزارت د امامانو د ستاژ، د سيرت النبي صلی الله عليه وسلم د پايلو اعلان او د دغه وزارت د عربي ژبې انستيټيوټ څخه د فارغانو په مراسمو کې ګډون او وينا وکړه.

د لوړو زده کړو سرپرست وزير شيخ الحديث مولوي نداء محمد نديم صاحب په يادو مراسمو کې د امامت پر ارزښت خبرې وکړې او امامت يې له وقار او عزت څخه ډک مسؤليت وباله.

هغه د ارشاد، حج او اوقافو وزارت امامانو ته په خطاب کې وويل چې اوسمهال تاسو ته په افغانستان کې د حق ويلو تر ټولو ښه زمينه برابره ده او زياته يې کړه: «تاسو ته د اسلامي امارت امير د حق په ويلو امر کوي، په داسې حال کې چې ډېرى هېوادونو کې علماوو ته د حق ويلو اجازه نه ورکول کېږي.»

دغه راز د لوړو زده کړو سرپرست وزير وويل چې د اسلام په پوهه کې عربي ژبه مهمه ده او د رسول الله صلی الله عليه وسلم سيرت يې د جهالت د تيارو پر وړاندې ځلانده روښنايي ياده کړه.

د مراسمو په پای کې د عربي ژبې، سيرت النبي صلی الله عليه وسلم او امامانو لومړي، دويم او درېيم نومره ته ستاينليکونه او ډالۍ ورکړل شوې.

۱۴۴۵/۶/۲۴ هـ ق ۱۴۰۲/۱۰/۱۷ هـ ش

۲۰۲۴/۱/۷ م

# د لوړو زده کړو سرپرست وزیر د پوهنې وزارت په ورکشاپ کې ګډون وکړ







د لوړو زده کړو سرپرست وزیر د پوهنې وزارت مرکزي او ولایتي رئیسانو د تعارف او همغږۍ ورکشاپ کې ګډون او وینا وکړه.

په پیل کې د ریاست الوزراء اداري مرستیال مولوي عبدالسلام حنفي د پوهنې وزارت اړوندو رئیسانو ته سپارښتنه وکړه چې د هېواد بچیان په سالمه اسلامي مفکوره وروزي.

همدا راز د لوړو زده کړو سرپرست وزیر شیخ الحدیث مولوي نداء محمد ندیم صاحب په یاد ورکشاپ کې د امیر پر مکلفیتونو خبرې وکړې او ویې ویل: «امیر مکلف دی چې ور کسان پر دندو وګوماري، د دندې لایحه ورته مشخصه کړي، څارنه یې وکړي او د کار د ښه والي لپاره لارښوونې او سپارښتنه ورته وکړي.»

د نوموړي په وینا؛ د اسلامي امارت د کامیابۍ راز د امیر په اطاعت کې دی او هر مسؤل په خپله اداره کې پر ماتحت کسانو امیر او مسؤل دی.

د لوړو زده کړو سرپرست وزیر وویل چې په تېره اداره کې مسلکي کسان وو، خو د فساد او نه اخلاص له امله یې کارونه خراب او نظام یې ګډوډ کړی و. هغه د پوهنې وزارت اړوندو رئیسانو ته سپارښتنه وکړه چې په کارونو کې اخلاص او له خلکو سره ښه چلند وکړي.

همدارنګه د پوهنې سرپرست وزیر مولوي حبیب الله آغا او د دغه وزارت نورو مسؤلینو د یاد ورکشاپ په اړه معلومات ورکړل او هغه یې د چارو د ښه والي لپاره ګټور وباله.

د یادونې وړ ده چې دغه ور کشاپ به درې ورځې دوام وکړي او د پوهنې وزارت اړوندو رئیسانو ته به د خپلو کاري مسؤلیتونو، صلاحیتونو او چارو ښه والي اړوند موضوعاتو وړاندې شي.

۱۴۴۵/٦/۲۴ هـ ق ۱۴۰۲/۱۰/۱۷ هـ ش ۲۰۲۴/۱/۷ م

# آزمون تقریری بست های کادر علمی ثقافت اسلامی اخذ شد

با حضور سرپرست وزارت تحصیلات عالی از نزد کاندیدان بست های کادر علمی ثقافت اسلامی نهادهای تحصیلی(پروان، بامیان، پنجشیر و دایکندی) آزمون تقریری اخذ شد.

شیخ الحدیث مولوی نداء محمد ندیم سرپرست وزارت تحصیلات عالی در آغاز این امتحان تمام علماء کرام را در امور دینی و اخروی موفق خوانده بیان داشت که، هدف از اشتراکش در این برنامه شفافیت بهتر امتحان و تشخیص کادر های ورزیده میباشد.

قابل ذکر است که بعد از پروسه امتحان تحریری از نزد ۸۳ تن داوطلب برای ۱۵ بست کادری نهاد های تحصیلی یاد شده با حضور سرپرست وزارت تحصیلات عالی از سوی کمیته مؤظف در تالار شورای رهبری پوهنتون کابل امتحان تقریری اخذ گردید، که بعد از اعلان نتیجه آزمون لسان خارجی، امتحان تحریری و تقریری با در نظرداشت لایحه جذب اعضای کادر علمی داوطلبان مستعد به پروسه کنفرانس علمی معرفی می‌شوند.

۱۴۴۵/٦/۲۴ هـ ق ۱۴۰۲/۱۰/۱۷ هـ ش ۲۰۲۴/۱/۷ م

# د عبدالله بن مسعود رضی الله عنه جامعې علمي شورا ناسته وشوه



د عبدالله بن مسعود رضی الله عنه جامعې علمي شورا ناسته د لوړو زده کړو سرپرست وزير په حضور کې ترسره شوه.

په پيل کې د عبدالله بن مسعود رضی الله عنه جامعې رئيس مفتي احسان الله احسان د دغې جامعې د کړنلارې، فعاليتونو او لاسته راوړنو په اړه معلومات ورکړل او خپلې ستونزې او وړانديزونه يې د لوړو زده کړو له سرپرست وزير سره شريک کړل .

وروسته د لوړو زده کړو سرپرست وزير شيخ الحديث مولوي نداء محمد نديم، په داسې حال کې چې د دغه وزارت د محصلانو چارو معين مفتي محمد طاهر احمد هم حضور درلود، په هېواد کې د معياري ديني تخصصاتو پر ارزښت خبرې وکړې او ويې ويل چې پخوا ديني علومو ته ډېر پام نه ساتل کېده او په لوی لاس څنډې ته شوي وو .

نوموړي د يادې جامعې مشرتابه او استادانو ته د ستونزو د حل او وړانديزونو په پام کې نيولو ډاډ ورکړ او هغوی ته يې د جامعې د پرمختګ او معياري کولو په برخه کې لازمې لارښوونې وکړې.

۱۴۴۵/٦/۲۵ هـ ق ۱۴۰۲/۱۰/۱۸ هـ ش ۲۰۲۴/۱/۸ م



## سرپرست وزیر تحصیلات عالی با آمران دیپارتمنت های پوهنتون تعلیم و تربیه کابل دیدار کرد

سرپرست وزارت تحصیلات عالی طی جلسات جداگانه با اعضای شورای علمی و آمرین دیپارتمنت های مختلف پوهنتون تعلیم و تربیه کابل دیدار کرد.

شیخ الحدیث مولوی نداء محمد ندیم سرپرست وزارت تحصیلات عالی ضمن استماع نظریات، خواست ها و پیشنهادات هیئت رهبری، اعضای شورای علمی و آمرین دیپارتمنت ها، در مورد اهمیت تعلیم و تربیه در کشور و نقش این پوهنتون در راستای تربیه کادر های جوان صحبت نمود.

وی گفت: «محصلانی را که شما فارغ می دهید، نسبت به فارغان سایر رشته ها نقش برجسته ی در جامعه ایفا می کنند چون فارغان پوهنتون تعلیم و تربیه؛ استادان آینده کشور بوده و مسوولیت آموزش و پرورش اولاد این وطن را به دوش خواهند داشت.»

سرپرست وزارت تحصیلات عالی همچنان در رابطه به خواست های هیئت رهبری و استادان پوهنتون یاد شده اظهار داشت که امارت اسلامی افغانستان در قسمت تقویت و بلند بردن نظام تحصیلی کشور متعهد بوده و نظر به امکانات خویش توجه خاص به این بخش نموده است.

سپس شیخ‌الحدیث مولوی سید بشیر آغا هاشمی رئیس پوهنتون تعلیم و تربیه کابل از فعالیت های اخیر مقام رهبری وزارت تحصیلات عالی در قسمت برنامه های علمی و انکشافی به نیکی یاد نموده، یک سلسله خواست ها و پیشنهادات شان را با سرپرست وزارت تحصیلات عالی شریک ساخته که از جانب وی در زمینه اطمینان داده شد.

قابل ذکر است که درحال حاضر پوهنتون تعلیم و تربیه کابل، دارای ۹ پوهنځی، ۳۲ دیپارتمنت و ۹ برنامهٔ ماستری می باشد.

۱۴۴۵/۶/۲۵ هـ ق ۱۴۰۲/۱۰/۱۸ هـ ش ۲۰۲۴/۱/۸




## د لوړو زده کړو سرپرست وزیر بغلان ولایت ته سفر وکړ

د لوړو زده کړو سرپرست وزیر شیخ الحدیث مولوي نداء محمد ندیم بغلان ولایت ته د خپل رسمي سفر په ترځ کې د بغلان پوهنتون له مشرتابه پلاوي او استادانو سره وکتل .

نوموړي په یاده لیدنه کې د پوهنتون د مسؤلینو او استادانو ستونزې او وړاندیزونه واورېدل او د حل ډاډ یې ورکړ.

دغه راز د لوړو زده کړو سرپرست وزیر د یاد پوهنتون پر ۲۰۰ جریبه ځمکه د احاطوي دېوال او نورو زېربنایي پروژو د کار له جریان څخه لیدنه وکړه، چې بودیجه یې د دغه وزارت له لوري ورکول کېږي.

۱۴۴۵/۷/۶هـ ق ۱۴۰/۱۰/۲۸ ۲هـ ش ۲۰۲۳/۱/۱۸م

## د لوړو زده کړو سرپرست وزیر د ترکیې له شارژدافیر سره وکتل

د لوړو زده کړو سرپرست وزیر په خپل کاري دفتر کې د ترکیې هېواد له شارژدافیر سره وکتل.

په یاده لیدنه کې د لوړو زده کړو سرپرست وزیر شیخ الحدیث مولوي نداء محمد ندیم په افغانستان کې د ترکیې سرپرست سفیر او شارژدافیر جنک اونال او ورسره مل پلاوي ته د ښه راغلاست ویلو ترځنګ، د دواړو هېوادونو ترمنځ د علمي او کلتوري اړیکو په پاللو ټینګار وکړ او د افغانستان او ترکیې ترمنځ یې پر ځینو ګډو تحصیلي موضوعاتو خبرې وکړې.

دغه راز سرپرست وزیر د دواړو هېوادونو ترمنځ پر ښو اړیکو او له یو بل سره د علمي او څېړنیزو تجربو پر شریکولو هم بحث وکړ او د لوړو زده کړو په برخه کې یې ځینې وړاندیزونه له شارژدافیر سره شریک کړل.

ورپسې په افغانستان کې د ترکیې سرپرست سفیر او شارژدافیر، د افغانستان او ترکیې د اکاډمیکو اړیکو پر مخینه خبرې وکړې او د افغانستان له تحصیلي نظام سره یې د بنسټیزو کارونو اړوند د همکارۍ ډاډ ورکړ.

د یادولو وړ ده چې په دغه لیدنه کې دواړو لوریو پر غوره تحصیلي اړیکو او علمي تجربو شریکولو خبرې وکړې.

۱۴۴۵/۷/۵هـ.ق ۱۴۰۲/۱۰/۲۷هـ.ش ۲۰۲۴/۱/۱۷م

# سرپرست وزیر تحصیلات عالی از مؤسسه تحصیلات عالی سمنگان دیدن کرد

سرپرست وزیر تحصیلات عالی در ادامه سفر رسمی خویش به زون شمال کشور برعلاوه اشتراک در شورای رهبری مؤسسه تحصیلات عالی سمنگان از بخش های مختلف آن موسسه دیدار کرد.

شیخ الحدیث مولوی نداء محمد ندیم سرپرست وزارت تحصیلات عالی مشکلات و پیشنهادات هیئت رهبری و استادان مؤسسه تحصیلات عالی سمنگان را استماع نموده ضمن وعده حل مشکلات آنان در زمینه توصیه های لازم سپرد.

همچنان سرپرست وزیر تحصیلات عالی از جریان کار پروژه های نیمه تمام این



مؤسسه دیدار کرده و مسوولین را به نظارت از جریان کار تشویق نمود. ۱۴۴۵/۷/۶هـ ق ۱۴۰۲/۱۰/۲۸هـ ش ۲۰۲۳/۱/۱۸م

# لوړو زده کړو سرپرست وزیر د بغلان ولایت جامعه دارالعلوم حقانیه مدرسې د دستاربندۍ په مراسمو کې ګډون وکړ




د لوړو زده کړو سرپرست وزیر بغلان ولایت ته د رسمي سفر په ترځ کې د یاد ولایت د جامعه دارالعلوم حقانیه مدرسې د فاضلانو د دستاربندۍ په مراسمو کې ګډون وکړ.

د لوړو زده کړو سرپرست وزیر شیخ الحدیث مولوي نداء محمد ندیم په یادو مراسمو کې د طلباء کرامو او حافظانو په فراغت خوښي وښوده او د شل کلن دور پر مهال یې د بغلان د غیور او مجاهد اولس د مبارزې او قربانۍ ستاینه وکړه. نوموړي علماوو ته په خطاب کې وویل چې اوس مهال تاسو ته په افغانستان کې د حق ویلو تر ټولو ښه زمینه برابره ده او زیاته یې کړه: «تاسو ته د اسلامي امارت امیر د حق په ویلو امر کوي، په داسې حال کې چې ډېرې هېوادونو کې علماوو ته د حق ویلو اجازه نه ورکول کېږي».

همداراز د دیني علومو پر ارزښت وغږېد او زیاته یې کړه چې خلکو ته د خدمتونو وړاندې کولو لپاره پوهه او علم اړین دی؛ ترڅو د هغه په رڼا کې خپلې کړنې ترسره کړي.

۱۴۴۵/۷/۶هـ ق ۱۴۰۲/۱۰/۲۸هـ ش ۲۰۲۳/۱/۱۸م



## سرپرست وزارت تحصیلات عالی به ولایت جوزجان سفر کرد

شیخ الحدیث مولوی نداء محمد ندیم سرپرست وزارت تحصیلات عالی، طی سفر رسمی به ولایت جوزجان، از جریان امتحان علماء کرام آن ولایت دیدار و نظارت به عمل آورد.

وی همچنان ضمن دیدار از بخش های مختلف پوهنتون جوزجان، با استادان پوهنتون یاد شده نیز دیدار و گفتگو کرد.

۱۴۴۵/۷/۹ هـ ق ۱۴۰۲/۱۱/۱ هـ ش ۲۰۲۴/۱/۲۱ م

## د دیني علماء کرامو عالمیه، عالیه او ثانویه کلنۍ ازموینې پیل شوې

د لوړو زده کړو سرپرست وزیر په حضور کې په بلخ ولایت کې عالمیه، عالیه او ثانویه کلنۍ ازموینې پیل شوې

د لوړو زده کړو سرپرست وزیر شیخ الحدیث مولوي نداء محمد ندیم پداسې حال کې چې د بلخ ولایت والي مولوي حاجي یوسف وفا یې ملتیا کوله په بلخ ولایت کې د دیني علماوو عالمیه، عالیه او ثانویه ازموینې پیل او طالب العلمانو او فاضلانو ته یې ډاډ ورکړ چې یادې ازموینې به په پوره روڼتیا او عادلانه توګه ترسره کیږي.

یادې ازموینې چې په څلور دیرشو ولایتونو کې اخیستل کیږي، تر شپږو ورځو به دوام وکړي.

۱۴۴۵/۷/۹ هـ ق ۱۴۰۲/۱۱/۱ هـ ش ۲۰۲۴/۱/۲۱ م

## د بلخ او کندز جامعاتو لپاره د استادانو ګمارنې ازموینه واخیستل شوه

د لوړو زده کړو سرپرست وزیر شیخ الحدیث مولوي نداءمحمد ندیم صاحب په مشرۍ ځانګړې کمېټې د بلخ او کندز جامعاتو لپاره د استادانو ګمارنې په موخه ازموینه واخیسته.

د لوړو زده کړو وزیر او ورسره مل پلاوي شمال زون ته د خپل رسمي سفر پر مهال په بلخ ولایت کې د کندز او بلخ جامعو لپاره د استادانو ګمارنې په موخه له ۱۵۰ تنو شیوخو کرامو او مفتیانو څخه ازموینه واخیسته او د یادو جامعو لپاره یې تکړه او با استعداده استادان وګمارل.

په یاده ځانګړې کمېټه کې د بلخ ولایت علماوو شورا رئیس، د جهادي مدرسې مسؤل او مرافعې محکمې رئیس غړیتوب درلود.

۱۴۴۵/۷/۱۰ هـ ق ۱۴۰۲/۱۱/۲ هـ ش ۲۰۲۴/۱/۲۲ م

## د هېواد په ۳۴ ولايتونو کې د ديني مدارسو د کلنۍ ازمويني دويمه ورځ پای ته ورسېده

د هېواد په ۳۴ ولايتونو کې د ديني مدارسو له طالب العلمانو او فاضلانو د ثانويې، عاليې او عالميې درجو د کلنۍ ازمويني دويمه ورځ پای ته ورسېده.

دغه ازمويني چې د لوړو زده کړو او پوهنې وزارتونو له لوري په ګډه اخيستل کېږي، د دويمې ورځې لپاره د هېواد په ټولو ولايتونو کې له طالب العلمانو او فاضلانو څخه ازموينه واخيستل شوه.

د لوړو زده کړو سرپرست وزير شيخ الحديث مولوي نداء محمد نديم، چې د يادو ازموينو څخه د ليدنې او څارنې په موخه يې د هېواد د شمال زون ولايتونو ته سفر کړی، پر دوام يې په فارياب ولايت کې د ديني مدارسو د کلنۍ ازمويني بهير څخه ليدنه او څارنه وکړه.

سرپرست وزير د ازمويني ګډونوالو ته د شفافيت په اړه د ډاډ ورکولو ترڅنګ وويل، چې ازمويني کولی شي علم لا معياري کړي او طالب العلمان لا نورو زده کړو او مطالعې ته وهڅوي.

د لوړو زده کړو سرپرست وزير ترڅنګ د ياد وزارت مالي او اداري معين مولوي حافظ محمد حامد حسيب د جنوب لويديځ زون د ديني مدارسو کلنۍ ازمويني څخه د ليدنې او څارنې په موخه سفر کړی او د ازمويني په دويمه ورځ يې د زابل ولايت د مدارسو له ازمويني څخه د ليدنې او څارنې ترڅنګ ګډونوالو ته د روڼتيا په اړه ډاډ ورکړ او هغوی ته يې د بريا هيله وکړه.

د يادونې وړ ده، چې دغه ازمويني د هېواد په ټولو ولايتونو کې شپږ ورځې دوام کوي او هره ورځ د طالب العلمانو او فاضلانو څخه د يوه مضمون اړوند ازموينه اخيستل کېږي.

۱۴۴۵/۷/۹ هـ. ق ۱۴۰۲/۱۱/۱ هـ.ش ۲۰۲۴/۱/۲۱ م

## سرپرست وزارت تحصیلات عالی به ولایت فاریاب سفر کرد



سرپرست وزارت تحصیلات عالی به سلسله دیدار و نظارت از امتحانات علماء کرام، به ولایت فاریاب سفر کرد.

شـیخ الحدیث مولوی نداء محمد ندیم سرپرست وزارت تحصیلات عالی، طی سفر رسمی به ولایت فاریاب، در حالیکه والی آن ولایت نیز حضورداشت، از جریان امتحان علمای کرام ولایت فاریاب دیدار و نظارت به عمل آورد.

وی همچنان با هیئت وزارت تحصیلات عالی که به هدف اخذ امتحان آمده بود نیز دیدار نموده و به آنان در راستای حل هر گونه مشکل اطمینان داد.

۱۴۴۵/۷/۹ هـ. ق ۱۴۰۲/۱۱/۱ هـ.ش ۲۰۲۴/۱/۲۱ م

# کنفرانس ملی بهبود نهاد های تعلیمی و تحصیلی افغانستان در پوهنتون تعلیم و تربیه کابل برگزار شد



کنفرانس علمی تحت عنوان "کنفرانس ملی بهبود نهادهای تعلیمی و تحصیلی افغانستان" در پوهنتون تعلیم و تربیه کابل آغاز شد.

این کنفرانس که از سوی وزارت تحصیلات عالی در پوهنتون تعلیم وتربیه کابل راه اندازی گردیده است، هدف از آن بهبود و تقویت نهاد های تحصیلی و تعلیمی کشور، حل مشکلات و چالش ها و ایجاد همکاری و هماهنگی میان وزارت های تحصیلات عالی و معارف می باشد. به این کنفرانس از جانب استادان نهاد های مختلف امارتی و خصوصی، مسوولان وزارت معارف و اعضای اکادمی علوم افغانستان۱۸۲ مقاله علمی - تحقیقی فرستاده شده است.

در مراسم افتتاحیه کنفرانس یاد شده مولوی عبدالکبیر معاون سیاسی ریاست الوزرا گفت که افغانستان در یک مرحله حساس قرار دارد، بیرون آمدن از جنگ و استعمار، نیازمند کار زیاد در عرصه های تعلیمی و تحصیلی می باشد.

همچنان شیخ الحدیث مولوی نداء محمد ندیم سرپرست وزارت تحصیلات عالی کشور، وزارت معارف را به عنوان بنیانگذار نظام تعلیمی در کشور خوانده، وعده هرگونه همکاری را با این وزارت نمود.

وی اضافه نموده گفت که وزارت تحصیلات عالی از طریق پوهنتون تعلیم و تربیه و سایر نهاد های تحصیلی خویش در آموزش معلمان ماهر و مسلکی برای مکاتب کشور تلاش خواهد کرد. سرپرست وزارت تحصیلات عالی از استادان نهاد های تحصیلی کشور خواست که در ولایت های مربوطه شان با رییسان معارف در تماس و در راستای پیشرفت معارف در جامعه شان مشترکاً کار کنند.

به همین ترتیب در کنفرانس متذکره مولوی حبیب الله آغا سرپرست وزارت معارف با اشاره به جنگ های فکری، گفت که ما باید به افکار خویش و علوم دینی توجه نمائیم.

همچنان سایر سخنرانان در رابطه به ضرورت و اهمیت این کنفرانس صحبت های مفید کردند.

قابل ذکر است که در روز نخست این کنفرانس دو روزه، ۱۱ تن از استادان نهاد های مختلف تحصیلی مقالات علمی – تحقیقی شان را ارایه کردند.

۱۴۴۵/۷/۱۲ هـ. ق ۱۴۰۲/۱۱/۴ هـ. ش ۲۰۲۴/۱/۲۴ م

# سرپرست وزارت تحصیلات عالی از جریان امتحان مدارس دینی ولایت بلخ دیدن کرد

سرپرست وزارت تحصیلات عالی به ادامه بررسی از روند امتحانات سالانه علماء کرام، مدارس دینی ولایت های مختلف کشور، امتحان مدارس دینی ولایت بلخ را مورد بررسی قرار داد.

شیخ الحدیث مولوی نداء محمد ندیم سرپرست وزارت تحصیلات عالی، طی سفر رسمی به ولایت بلخ، پروسه امتحان طلاب کرام و فاضلان مدارس دینی ولایت بلخ را از نزدیک بررسی نموده و به علماء ممتحن و مسوولان پوهنتون بلخ در زمینه اخذ امتحان شفاف که قابل قبول همه قرار گیرد، هدایات لازم نمود.

سرپرست وزارت تحصیلات عالی همچنان به شاملان امتحان در رابطه به شفافیت پروسه جاری امتحانات سالانه یاد شده نیز اطمینان داد.

۱۴۴۵/۷/۱۲ هـ. ق ۱۴۰۲/۱۱/۴ هـ. ش ۲۰۲۴/۱/۲۴ م

# د دیني مدارسو کلنۍ ازموینې په بریالۍ توګه پای ته ورسېدې







د لوړو زده کړو او پوهنې وزارتونو له لوري په ګډه د هېواد ټولو دیني مدارسو کلنۍ آزموینې، چې له تېرې شنبې ورځې پیل شوې وې، په بریالۍ توګه پای ته ورسېدې.

د عالیې او عالمیې مرحلې او خامسې درجې کلنۍ ازموینې د روان کال مرغومي میاشتې په ۳۰مه نېټه پیل او د شپږو ورځو په موده کې د یادو وزارتونو د رهبرۍ تر جدي څارنې لاندې، په ولایتونو کې د تحصیلي بنسټونو او پوهنې وزارت رئسانو او دیني جامعو مسؤلینو په همکارۍ په شفاف ډول پای ته ورسېدې.

د دیني علماء کرامو له ازموینو څخه د لیدنې او څارنې په موخه د لوړو زده کړو سرپرست وزیر د هېواد شمال زون بلخ، جوزجان، فاریاب او سمنګان ولایتونو، د لوړو زده کړو وزارت مالي او اداري معین د هېواد جنوب لوېدیځ زون غزني، زابل ارزګان او کندهار ولایتونو او همدارنګه د دغه وزارت یو شمېر نورو مسؤلینو مختلفو ولایتونو ته سفرونه وکړل او د ازموینو جریان یې له نیږدې وڅاره.

یادې ازموینې د هېواد په ۳۴ ولایتونو کې هم مهاله پیل شوې، چې د دیني مدارسو شاوخوا ۴۸ زره طالب العلمانو او فاضلانو ګډون پکې کړی و.

۱۴۴۵/۷/۱۳ هـ ق ۱۴۰۲/۱۱/۵ هـ ش ۲۰۲۴/۱/۲۵ م

# از فراغت دور دوم فاضلان جامعه عبدالله بن مسعود (رضی الله عنه) تجلیل بعمل آمد



۱۲۶ تن فاضلان از دوره دوم تخصص افتا و قضاء جامعه عبدالله بن مسعود رضی الله عنه وزارت تحصیلات عالی فارغ و برای خدمت به جامعه پیشکش شدند.

در مراسم فراغت یاد شده اعضای کابینه ا.ا.ا، هیئت رهبری وزارت تحصیلات عالی و جامعه عبدالله بن مسعود رضی الله عنه، شیوخ کرام و خانواده های فاضلان فارغ شده شرکت کرده بودند.

در آغاز قاری عبدالستار سعید معاون ریاست عمومی دفتر ریاست الوزرا پیام تبریکی محترم ملا محمد حسن آخند را به خوانش گرفت.

سپس مولوی عبدالسلام حنفی معاون اداری ریاست الوزرا در خطاب به فاضلان فارغ شده گفت که حالا شما در مرحله خدمت شامل شدید و جامعه چشم به راه خدمت شما است.

همچنان شیخ الحدیث مولوی نداء محمد ندیم صاحب سرپرست وزارت تحصیلات عالی تخصص در علوم دینی و عصری را یگانه راه در تکامل و پیشرفت جامعه پنداشته گفت که امارت اسلامی در کنار پیشرفت های مادی به پیشرفت معنوی و علم توجه خاص دارد.

نامبرده به فاضلان فارغ پیشنهاد کرد که خود را از تکبر حفاظت کرده و تواضع اختیار کنند.

همین طور از آنان خواست تا با استفاده از مسلک خویش به جامعه خدمت کنند، به منصب ها مصروف نشده و تعلیمات خویش را ادامه دهند.

سرپرست وزارت تحصیلات عالی در خطاب به فاضلان گفت: «شما قضای کشور را قوی کنید و حق را به حقدار بسپارید.»

همچنان حبیب الله آغا سرپرست وزیر معارف، شیخ عبدالحکیم شرعی سرپرست وزیر عدلیه، شیخ نور محمد ثاقب سرپرست وزیر ارشاد، حج و اوقاف و سخنرانان دیگر بر ارزش قضأ و افتأ صحبت نموده به فاضلان فارغ شده پیشنهاد کردند که در فتوا دادن و قضا دقت کامل نمایند.

به گفته مسوولان جامعه عبدالله بن مسعود رضی الله عنه، قرار است تخصص تفسیر و علوم القرآن، حدیث و علوم حدیث، بانکداری اسلامی و تخصص دعوت و ارشاد هم سال آینده در این جامعه آغاز شود.

در پایان مراسم فاضلان فارغ دستار های فضیلت را از سوی بزرگان و استادان بر سر بستند.

۱۴۴۵/۷/۱۶ هـ ق ۱۴۰۲/۱۱/۸ هـ ش ۲۰۲۴/۱/۲۸ م

# په کندهار پوهنتون کې د ۲۵،۵ میلیونه افغانیو په لګښت دوې پروژې پرانیستل شوې

د لوړو زده کړو سرپرست وزیر په کندهار پوهنتون کې د ۲۵،۵ میلیونه افغانیو په لګښت د سړک او ګلدانونو جوړلو پروژو پرانیسته وکړه.

په یادو دوو پروژې کې د ۱۷،۳ میلیونه افغانیو په لګښت د ۱،۸ کیلومتره سړک او د پوهنتون د نوې دروازې پر مسیر د ۸،۲ میلیونه افغانیو په لګښت ګلدانونه شامل دي، چې لګښت یې د لوړو زده کړو وزارت له بودجې ورکول کېږي.

د دغو پروژو د پرانیستې پر مهال د لوړو زده کړو سرپرست وزیر شیخ الحدیث مولوي نداء محمد ندیم وویل، چې د ا.ا.ا له راتګ وروسته یاد وزارت د علمي او تحصیلي مرکزونو د رغنیزو چارو، علمي برخو او نصاب ته ځانګړې پاملرنه کړې او لا هم ورته ژمن دی.

۱۴۴۵/۷/۱۸ هـ ق ۱۴۰۲/۱۱/۱۰ هـ ش ۲۰۲۴/۱/۳۰ م

# د کندهار (جامعه دارالعلوم حکیمیه) مدرسې څخه ۳۳۰ تنه فارغ شول

د لوړو زده کړو سرپرســت وزیر د کندهار (جامعه دارالعلوم حکیمیه) مدرسې په فراغت غونډه کې ګډون او وینا وکړه.
د یادې مدرسې څخه ۳۳۰ تنه فاضلان، حافظان او قاریان فارغ شـول، چې د فراغت غونډې په پیل کې د اطلاعات او کلتور وزارت د ځوانانو چارو معین مولوي محمد یونس راشد د امیرالمؤمنین شــیخ الحدیث والقران مولوي هبة الله اخندزاده حفظه الله رالېږلی پیغام ولوست.
وروسـته د لـوړو زده کـړو سرپرسـت وزیـر شـیخ الحـدیث مولـوي نـداء محمـد نـدیم صـاحب فارغـانو او د هغـوی د کورنیــو غــړو تــه د مبــارکۍ ویلــو ترڅنــګ وویــل چــې د علـم لـه زده کـړې پـه علـم بانـدې عمـل ډېـر اړیـن دی.
هغـه دغـه راز لـه فارغـانو وغوښـتل چـې زده کـړې علومـو ته د عمـل جامـه ور واغونـدي او وخـت پـر وخـت یـې نـورو مسلمانانو ته د تذکرې په ډول ورسوي.
په فراغت غونډه کې د ا.ا.ا قاضي القضات شیخ عبدالحکیم حقاني فاضـــلانو او حافظانو ته په خطاب کې وویـل:«د طالبی او زده کړو پر وخت ســتاســو فکر او نیت د دین خدمت، د علم زده کړه او نورو ته رسـول وو، نو اوس لـه فراغت وروســته دغه مســؤلیت در ترغاړې کېږي، پکار ده چې په سم ډول یې ادا کړئ.»
همدارنګه یو شــمېر نورو عالمانو او ویناوالو هم فارغانو ته بېلابیلې سپارښتنې او لارښوونې وکړې او ترې ویې غوښتل چې پـه ټولنـه کې د اولګو پـه ډول ژونـد وکړي او د علم معنویت وساتي.
۱۴۴۵/۷/۱۸ هـ ق ۱۴۰۲/۱۱/۱۰ هـ ش ۲۰۲۴/۱/۳۰ م

# از فراغت فاضلان جامعه ابراهیم النخعی (رحمةالله علیه) تجلیل بعمل آمد



حدود ۳۰۰ تن فاضلان از بخش های افتاء و قضــاء جامعه ابراهیم النخعی ولایت کندهار فارغ و جهت خدمت به جامعه تقدیم شدند.
در مراسم فراغت یاد شـده، سرپرسـت وزارت تحصـیلات عالی، رییس سـتره محکه، معین مـالـی و اداری وزارت تحصــیلات عــالـی، مســـوولان ادارات مختلف نظـامی و ملکی کندهار، خانواده های فاضــلان و شـــماری زیادی از هموطنان شرکت کرده بودند.
مولوی نـداء محمـد نـدیم سرپرســـت وزیر تحصیلات عالی طی سخنان خود تخصص در علوم دینی و عصری را یگانه راه برای تکامل و پیشرفت جامعه خوانده گفت که امارت اسلامی در کنار پیـــشرفت های مادی، به پیــــشــرفت های معنوی و علم توجه خاص دارد.
نامبرده در خطاب به فاضــلان گفت که خود را از تکبر حفاظت کرده و تواضــع اختیار کنند، از طریق مســلـک خویش خدمت کرده و به تحصیلات خود ادامه دهند.
سـپس قاضـی القضـات شـیخ الحدیث عبدالحکیم حقانی گفت که طی اشـغال بیسـت سـاله کفار با دسـیسـه های دســت داشــته میان افغانان تفرقه می انداختند که مثال بهتر آن فاصله میان علوم دینی و عصــری بود. نامبرده اضافه کرد که امارت اســلامی قصــد دارد تا مراکز مشــترک علوم عـصری و دینی ایجاد کند.
در ادامه مولوی حافظ محمد حامد حســیب معین مالی و اداری وزارت تحصیلات عالی بر ارزش اهدای اسناد صحبت کرد.
در پایان بر سر فاضلان فارغ شده، دستار های فضیلت بسته شد.
۲۰/۷/۱۴۴۵ هـ ق ۱۲/۱۱/۱۴۰۲ هـ ش ۲۰۲۴/۲/۱ م



## په هلمند پوهنتون کې د ٦٠ میلیونه افغانیو په ارزښت ۱۰ پروژې پرانیستل شوې

د لوړو زده کړو سرپرست وزیر په هلمند پوهنتون کې د ٦٠ میلیونه افغانیو په ارزښت ۱۰ بېلابېلې پروژې پرانیستې
د لوړو زده کړو سرپرست وزیر شیخ الحدیث مولوي نداء محمد ندیم پداسې حال کې چې د هلمند والي مولوي عبدالرحمن کندزي او د هلمند پوهنتون مشرتابه پلاوي یې ملتیا کوله، په هلمند پوهنتون کې د سړکونو هوارکاري او د پیاده رونو او ګلدانونو جوړولو، د ۳۰ کیلو واټه سولري برېښنا جوړولو، د کتابتون د تجهیز، د دفتري اجناسو د تجهیز، د انجینري او کرهنې پوهنځیو د لابراتواري توکو د خریداري، د ساختمانونو د ترمیماتو او د سرسبزۍ پروژې پرانیستې او دغه راز یې د حفظ او مراقبت، کمپیوټر لب او څېړنیز مرکز د تجهیز پروژې ګټې اخیستنې ته وسپارلې.
په یادو مراسمو کې سرپرست وزیر د پرمختګ او اسانتیاوو رامنځته کولو په برخه کې یادې پروژې مهمې وبللې او دغه راز یې د هلمند پوهنتون مشرتابه ته د نورو همکاریو ډاډ ورکړ.

۲۲/۷/۱۴۴۵ هـ ق ۱۴/۱۱/۱۴۰۲ هـ ش۲۰۲۴/۲/۳ م

## به منظور تقرر استادان برای جامعه دینی هلمند امتحان اخذ شد

سرپرست وزارت تحصیلات عالی در سفر رسمی خویش به ولایت هلمند، از شماری علماء کرام و شیوخ به منظور تعیین استادان برای جامعه دینی هلمند امتحان اخذ و استادان مستعد را برای جامعه یاد شده استخدام کرد.

در کمیته ویژه متذکره، والی ولایت هلمند، رئیس شورای علماء، معاون و اعضای آن، شیخ الدیث مدرسه جهادی، رئیس محکمه استیناف و رئیس تخصصات کندهار عضویت داشتند.

۲۳/۷/۱۴۴۵هـ ق ۱۵/۱۱/۱۴۰۲هـ ش ۴/۲/۲۰۲۴

# د لوړو زده کړو وزارت رهبري شورا ناسته وشوه

د لوړو زده کړو وزارت رهبري شورا ناسته، د دغه وزارت سرپرست وزیر په مشرۍ تر سره شوه.
په پیل کې د لوړو زده کړو سرپرست وزیر شیخ الحدیث مولوي نداء محمد ندیم د رهبري شورا له غړو سره لویدیځ زون ته د خپل سفر جریان شریک کړ او د یاد سفر پر لاسته راوړنو وغږېد. دغه راز یې د هېواد د تحصیلي ډګر په پرمختګ کې د اسلامي امارت د رهبرۍ او کابینې غړو له ملاتړ او همکاریو مننه وکړه او ویې ویل چې مشرتابه په هېواد کې د تحصیل د کیفیت لوړولو او پرمختګ په برخه کې زموږ ټولې غوښتنې منلې دي.
وروسته له اجنډا سره سم په ځینو ریاستونو کې د کمیسیونونو پر جوړولو، د شاروالۍ د سړک جوړولو پلان پر اساس د وزارت ځینو ساحو له منځه تللو، د ځینو خصوصي پوهنتونونو پر ستونزو او یو شمېر نورو موضوعاتو بحث او لازمې پرېکړې وشوې.

۱۶/۷/۱۴۴۵ هـ ق ۱۸/۱۱/۱۴۰۲ هـ ش ۷/۲/۲۰۲۴ م

# د لوړو زده کړو سرپرست وزیر د جاپان له سفیر سره وکتل



په یاده لیدنه کې د لوړو زده کړو سرپرست وزیر شیخ الحدیث مولوي نداء محمد ندیم صاحب د جاپان سفیر ته د ښه راغلاست تر څنګ ویې ویل چې افغانستان او جاپان ښې تاریخي اړیکې لري.
دغه راز د لوړو زده کړو سرپرست وزیر په تحصیلي او نورو برخو کې د جاپان له مرستو مننه وکړه او ترې ویې غوښتل چې د افغانستان د تحصیلي نظام په پیاوړتیا کې همکاري وکړي. همدا راز د یاد هېواد له سفیر څخه یې وغوښتل چې له نړیوالو سره د افغانستان حقیقي تصویر شریک کړي.
همدارنګه په یاده لیدنه کې د جاپان سفیر تاکویوشي کورمایا وویل چې د ناڅاپي پېښو او بحراني حالتونو پر مهال له افغانستان سره مرستو ته تیار دي او د بشري مرستو تر څنګ یې د بنیادي پروژو پلي کولو کې د همکارۍ ژمنه وکړه.

۲۵/۷/۱۴۴۵هـ.ق ۱۷/۱۱/۱۴۰۲هـ.ش

# سرپرست وزارت تحصیلات عالی با سفیر چین دیدار کرد

در این دیدار شیخ الحدیث مولوی نداء محمد ندیم سرپرست وزارت تحصیلات عالی، ضمن خوش آمدید گویی به سفیر چین، از روابط نیک تاریخی، سیاسی و اقتصادی میان دو کشور ابراز خرسندی کرده بر گسترش این روابط تاکید کرد.

سرپرست وزارت تحصیلات عالی گفت که کشور چین در طول تاریخ همیشه در کنار مردم افغانستان بوده و امروز نیز از پالیسی ها و خود ارادیت ا.ا.ا به صورت شایسته حمایت کرده و به آن احترام گذاشته است.

سرپرست وزارت تحصیلات عالی همچنان در کنار قدردانی از کمک های کشور چین در بخش های مختلف به ویژه تحصیلات عالی، گفت که خواست ما از همه کشور ها این است تا مطابق نیاز مندی ها، مردم افغانستان را کمک کنند. وی همچنان در این قسمت از کشور چین تشکری کرد.

شیخ الحدیث مولوی نداء محمد ندیم سرپرست وزارت تحصیلات عالی در ادامه صحبت های شان از اقدام اخیر کشور چین در مورد پذیرفتن اعتمادنامه سفیر افغانستان در کشور یاد شده نیز قدردانی کرده آن را یک دستآورد بزرگ در راستای توسعه روابط سیاسی، اقتصادی و اکادمیک میان دو کشور عنوان کرد.

در مقابل آقای جاوشنگ سفیر کشور چین مقیم کابل، با اشاره به روابط حسنه تاریخی و اقتصادی میان دو کشور گفت که دولت چین به ارزش های دینی، فرهنگی و تمامیت ارضی افغانستان احترام دارد و اقدامات اخیر دیپلوماتیک نیز گویایی این مدعا می باشد.

وی همچنان گفت که چین در بخش های مختلف از جمله زراعت و معادن با افغانستان روابط تجاری وسیعی دارد که قرار است این روابط بیشتر از گذشته افزایش یابد.

نامبرده همچنان پیرامون تقویت روابط اکادمیک، تحصیلی و برنامه های ارتقای ظرفیت برای استادان نهاد های تحصیلی نیز صحبت کرده در زمینه وعده همکاری داد.

۱۴۴۵/۷/۲۶ هـ ق ۱۴۰۲/۱۱/۱۸ هـ ش ۲۰۲۴/۲/۷ م

# د ننگرهار دیني جامعې لپاره د استادانو ګمارنې ازموینه واخیستل شوه




د لوړو زده کړو سرپرست وزیر شیخ الحدیث مولوي نداء محمد ندیم صاحب په مشرۍ ځانګړې کمېټې د ننګرهار دیني جامعې لپاره د استادانو ګمارنې په موخه ازموینه واخیسته.

د لوړو زده کړو سرپرست وزیر ننګرهار ولایت ته د خپل رسمي سفر پر مهال د دغه ولایت دیني جامعې لپاره د استادانو ګمارنې په موخه له یو شمېر علماء کرامو او شیوخو څخه ازموینه واخیسته او د یادې جامعې لپاره یې تکړه او با استعداده استادان وګومارل.

په یاده ځانګړې کمېټه کې د ننګرهار ولایت مرستیال والي، د علماوو شورا مرستیال، د جهادي مدرسې شیخ الحدیث، د عبدالله بن مسعود رضی الله عنه جامعې رئیس او د لغمان ولایت د علماوو شورا رئیس غړیتوب درلود.

۱۴۴۵/۸/۲ هـ. ق ۱۴۰۲/۱۱/۲۴ هـ. ش ۲۰۲۴/۲/۱۳ م




# کنفرانس بین المللی تغییر اقلیم در پوهنتون ننگرهار برگزار شد

«کنفرانس بین المللی تغییر اقلیم» با اشتراک اعضای کابینه ا.ا.ا و استادان داخلی و خارجی در پوهنتون ننگرهار آغاز شد.

حدود ۲۵۰ مقاله علمی-تحقیقی از سوی استادان و محققان داخلی و خارجی به این کنفرانس ارسال شده است که در این میان ۱۴۰ مقاله آن در کنفرانس یاد شده ارایه خواهد شد.

در مراسم افتتاحیه کنفرانس یاد شده مولوی عبدالکبیر معاون سیاسی ریاست الوزراء با بیان اینکه امارت اسلامی افغانستان قطع جنگل ها را در کشور ممنوع کرده است، برگزاری این کنفرانس را در این زمان مهم خواند.

همچنان شیخ الحدیث مولوی نداء محمد ندیم سرپرست وزارت تحصیلات عالی از تمام مردم افغانستان خواست که آب و هوای کشور شان را پاک نگه دارند و آن را مسوولیت هر مسلمان خواند.

وی اضافه کرده گفت که کشور های بزرگ صنعتی برای منافع خویش اقلیم را متضرر ساخته و در این راستا حقوق مردم افغانستان را نیز زیر پا کرده اند. موصوف همچنان اضافه کرد که اشغالگران در کنار حملات فزیکی بالای ما، به اقلیم ما نیز صدمه رسانیده اند که باید این ظلم را متوقف کنند.

سرپرست وزارت تحصیلات عالی همچنان از وزارتخانه های سکتوری خواست که در تهیه پالیسی های شان، از مقالات تحقیقی ارایه شده در این کنفرانس، استفاده کنند.

همچنان دوکتور لطف الله خیرخواه معین علمی وزارت تحصیلات عالی، انکشاف تحقیقات استادان و بلند کردن صدا در مقابل زیان های که از سوی جهانیان به اقلیم افغانستان وارد شده است را از جمله فواید این کنفرانس یاد کرد.

آقای خیرخواه افزود که جهانیان به نام نجات بشریت جلسات تشریفاتی برگزار می کند، در حالی که این کشورهای بزرگ صنعتی خود بشر را با مشکلات اقلیمی زیادی روبرو کرده است.

به همین ترتیب در مراسم افتتاحیه کنفرانس یاد شده، وزیران زراعت، آبیاری و مالداری، انکشاف دهات، شهر سازی و مسکن صحت عامه، رییس عمومی اداره امور، رییس اداره ملی حفاظت از محیط زیست، هیئت رهبری پوهنتون ننگرهار و محققان کشور های خارجی در مورد علل، مشکلات و راه حل های تغییر اقلیم و خشکسالی در افغانستان صحبت کردند.

قابل ذکر است که ضمن در نظرگرفتن امتیاز مالی و استفاده آن در ترفیعات علمی استادان نویسنده، از مقالات این کنفرانس بین المللی در قسمت تهیه پالیسی ها و طرح های وزارتخانه های سکتوری نیز استفاده خواهد شد.

وزارت تحصیلات عالی ۳ کنفرانس ملی و یک کنفرانس بین المللی را در سال جاری برگزار نموده و قرار است ۳ کنفرانس ملی دیگر را نیز در همین سال برگزار کند.

۲۹/۱۴۴۵/۷ هـ ق ۱۴۰۲/۱۱/۲۱ هـ ش ۲۰۲۴/۲/۱۰ م

# په میدان وردګ لوړو زده کړو مؤسسه کې لس پروژې پرانیستل شوې



د لـوړو زده کـړو سرپرسـت وزیـر میـدان وردګ ولایـت تـه د یـو کـاري سـفر پـه تـرځ کـې، د میـدان وردګ لـوړو زده کـړو موسسـه کـې د ۸۱ میلیونـو افغـانیو پـه لګښـت لـس پـروژې، چـې پـه هغـه کـې د ګټـې اخیسـتنې او د کـار پیـل پـروژې شاملې دي، پرانیستې.
پـه دغـو پـروژو کـې د څېړنیـز مرکـز ودانـۍ، د پوهنتـون بریښـنا د ښـاري بریښـنا شـبکې سره نښـلول، د شرعیـاتو پـوهنځي کتـابتون، د کرنـې پـوهنځي څېړنیـز فـارم او د کرنـې او ښـوونې او روزنـې پوهنځیـو د لابراتوارونـو، کرکیـټ میـدان، لیلیـې ودانـۍ، د غونـډو تـالار او د موسسـې د انګـړ زرغونتیـا شـاملې دي، چـې د یـادو پـروژو لـه ډلـې څخـه دري پـروژې ګټـې اخیسـتنې تـه وسـپارل شـوې، د څلـورو پـروژو کـار پیـل شـو او د دریـو نـورو پـروژو کـار، چـې ټاکـل شـوې پـه ۱۴۰۳ هـ.ش کـال کـې تـرسره شي، پـه دغـو لسـو پـروژو کـې شاملې دي.


د یادو پروژو د پرانیسـتې په مراسـمو کې د لوړو زده کړو سرپرسـت وزیر شـیخ الحدیث مولوي نداء محمد ندیم، په داسې حال کې چې د میدان وردګ ولایت مرستیال والي، د یـاد تحصـیلي بنسـټ رهبري پلاوی، د مختلفو ادارو مسؤولینو او علماء کرامو ګډون درلود، د لوړو زده کړو وزارت پروګرامونو او پراختیـایي پلانونو پـه اړه خبري وکړې او د میدان وردګ لوړو زده کړو موسسې له مسؤولینو څخه یې وغوښتل، چې د دې تحصیلي بنسټ ملکیتونو ساتنې ته ځانګړې پاملرنه وکړي.

۱۴۴۵/۸/۲ هـ ق ۱۴۰۲/۱۱/۲۴ هـ ش ۲۰۲۴/۲/۱۳ م

# د دعوت او ارشاد ریاست مبلغینو لپاره اصلاحي سمینار دایر شو

د لـوړو زده کـړو سرپرسـت وزیـر د کابـل ښـار اړونـد د دعـوت او ارشـاد ریاسـت مبلغینـو لپـاره پـه اصـلاحي سمینار کې ګډون وکړ
د ا.ا.ا د پـوهنې وزارت لـه لـوري پـه جـوړ شـوي سـمینار کـې د لـوړو زده کـړو وزارت سرپرسـت وزیـر شـیخ الحدیث مولـوي نداءمحمد ندیم مبلغینـو تـه پـه خطاب کـې وویـل چـې تاسـو بایـد خپـل دعـوت د مخاطب لـه سـویې سره سـم پـر مخ یوسـئ، چـې پـه دې سره کـولای شئ، خپلو موخو ته په ښه توګه ځانونه ورسوئ.
نومـوړي زیاتـه کـړه چـې ټـول پیغمبـران د دې لپـاره مبعـوث شـوي ترڅـو خلـک نېکـو لارو تـه را وبـولي او لـه بـدو لارو څخـه یـې منـع کـړي؛ نـو پـه دې توګـه د امر بـالمعروف او نهـی عـن المنکـر مسـئولیت خـورا درونـد دی.
وروسـته د پـوهنې وزارت سرپرسـت وزیـر مولـوي حبیـب الله آغا وویـل چـې د اسلام لـه بنسټیزو موخـو څخـه یـو هـم د امربـالمعروف او نهـی عـن المنکـر عمـلي کـول دي؛ پـه دې توګـه پـر مـوږ او تاسـو لازمـه ده، ترڅـو پـه خپلـو ټولـو ورځنیـو چـارو کـې د اسـلام د سـتر پیغمبـر حـضرت محمد صلي الله علیه وسلم تګلاره پلې کړو.

۱۴۴۵/۸/۹هـ.ق ۱۴۰۲/۱۲/۱هـ.ش ۲۰۲۴/۲/۲۰م




# ورکشاپ پنج روزه آموزشی امور مالی و تدارکاتی برگزار شد

ورکشـاپ پـنج روزه آموزشـی امـور مـالی و تـدارکاتی بـرای مسـؤولان نهـاد هـای تحصـیلی مرکـز و ولایـات کشـور، بـا اشـتراک سرپرسـت وزارت تحصـیلات عـالی در پوهنتون تعلیم و تربیه کابل آغاز شد.

هدف از برگزاری این ورکشـاپ، بلند بردن سـطح معلومات مسـؤولان و کارمندان نهاد های تحصـیلات عالی در بخش های مالی و تدارکاتی، سرعت بخشـیدن پروسـه های تدارکاتی و چگونگـی مـصرف بـودجه و ایجاد هماهنگی بیشتر میان ادارات ذیربط می باشد.

شـیخ الحدیث مولوی نداء محمد ندیم سرپرسـت وزارت تحصیلات عالی ارتقای ظرفیت مسؤولان و کارمندان بخش های تدارکات و اداری نهاد های تحصیلی کشور را یک نیاز جدی در راستای تطبیق پروژه های زیربنایی و علمی وزارت تحصیلات عالی خواند.

وی در خطاب به مسؤولان یاد شده گفت: « امروز مسؤولیت خدمتگذاری به دوش شماست بناً لازم است که برای ارایه خدمات بهتر، سـطح آگاهی تان را در قسـمت امور کاری خویش افزایش داده و مصـدر خدمت بهتر به مردم و نظام گردید؛ چون عدم آگاهی از امور سـبب کندی کار ها می شود.»

متعاقبـاً شـیخ نـور الحـق انـور رئـیس اداره امـور ا.ا.ا ضـمن اشـاره بـه اوصـاف، مسـؤولیت هـا و مهـارت هـای اشـخاص مسـؤول در یـک نظـام، روی فراگیـری و اهمیـت کسـب مهـارت هـای مـرتبط بـه وظیفـه تاکیـد نمـود. موصـوف همچنـان در مـورد اصـلاحات و فعالیـت هـای کـه در بخـش قـوانین و پروسـه هـای تـدارکاتی بعـد از حاکمیـت نظـام ا.ا.ا صـورت گرفتـه اسـت، نیـز معلومـات ارایه کرد.

همچنـان در ایـن ورکشـاپ مولـوی حـافظ محمـد حامـد حسـیب معـین مـالی و اداری وزارت تحصـیلات عـالی، مفتـی محمـد طـاهر احمـد معـین امـور محصـلان ایـن وزارت، عبـدالباری خپلـواک رئـیس مـالی و حسـابی و مفتـی احمـد الله نظـامی نماینـده اداره ملـی تـدارکات در رابطـه بـه اهمیـت همچـو ورکشـاپ هـا در بهبـود امـور تـدارکاتی و مـالی نهـاد هـای تحصـیلات عـالی صـحبت نمـوده، از شـاملان برنامـه خواسـتند تـا از ایـن فرصـت استفاده اعظمی نمایند.

قرار اسـت طی این ورکشـاپ که پنج روز ادامه خواهد یافت، استادان و متخصصان امور در مورد بودجه عامه و اهمیت آن، بودجه عامه و سـیاسـت های مالی، مفاهیم اسـاسـی، تثبیت نیازمندی و مراحل تدارکاتی، پلانگذاری تدارکاتی، فورمه های معیاری و پروسه های داوطلبی و سایر موضوعات مالی و تدارکاتی به شاملان ورکشاپ آموزش دهند.

۱۴۴۵/۸/۳ هـ ق ۱۴۰۲/۱۱/۲۵ هـ ش ۲۰۲۴/۲/۱۴ م

# پنځه ورځنی مالي او تداركاتي وركشاپ پای ته ورسېد

د لوړو زده کړو وزارت مرکز او ټولو امارتي تحصيلي بنسټونو مالي او تداركاتي چارو مسؤلينو لپاره پنځه ورځنی وركشاپ پای ته ورسېد .

په ياد وركشـــاپ كې د مركزي ادارو او د امارتي تحصـــيلي بنسټونو رئيسانو، مرستيالانو، د مركز او تحصيلي بنسټونو د مـالي او تـداركـاتي چـارو كـاركوونكو تـه د اســـتـادانو او متخصـصـينو له لوري د عامه بوديجې، مالي سـياسـتونو، تداركاتي پړاوونو، تداركاتي پلان جوړونې، معياري فورمو، د داوطلبۍ پروســـو او دېته ورته نورو موضـــوعاتو په اړه روزنه وركړل شوه .

د وركشـــاپ ګډونوالو په وينا؛ په تېرو پنځو ورځو كې مو د خپلې دندې اړوند ډېر مهارتونه تر لاسه كړل، چې په عملي كولو سره به يې د تحصيلي نظام په مالي او تداركاتي چارو كې روڼتيا او چټكتيا رامنځ ته شي .

همدارنګه په دغه وركشـــاپ كې د شـــيوخ كرامو له لوري اصلاحي بيانونه وشول او د بيت المال پر ارزښت يې خبرې وكړې .

دغه راز د ياد وركشاپ په پنځمه ورځ په تحصيلي بنسټونو كې د علمي او محصلانو چارو اړوند پر ستونزو او د هغو پر حل لارو خبرې وشـوې او پـه دې برخو كې د وزارت مـركـزي ادارو او دويمي واحدونو تر منځ د لا ډېرې همغږۍ پر رامنځ تـه كولو ټينګـار وشو .

په پای كې د لوړو زده كړو سرپرســـت وزير او مـشرتابه پلاوي له ټولو ګډونوالو څخه د مننې تر څنګ، د چارو د غوره والي پـه پـار لازمـې لارښوونې او سپارښتنې وكړې.

۷/۸/۱۴۴۵هـ.ق
۲۹/۱۱/۱۴۰۲هـ.ش
۱۸/۲/۲۰۲۴م




# سمینار اصلاحی ۱۵ روزه برای محصلان خاتمه یافت

ســـمینار اصـــلاحی ۱۵ روزه بـــرای محصـــلان ۱۵نهـــاد تحصـــیلی کشـــور کـــه از طـرف ریاســـت دعـوت و ارشـاد وزارت تحصیلات عالی دایر شده بود، پایان یافت.

این ســمینار که در پوهنتون کابل و پوهنتون پولی تخنیک کابل دایر گردیده بود، برای ۳۵۰ تن از محصـــلین نهاد های تحصـیلی امارتی زون مرکز توسـط علماء جید دروس تفسـیر، احادیث نبوی، تجوید، عقاید و سـیرت رسـول الله صلی الله علیه وسلم تدریس شد.

شـیخ الحـدیث مولـوی نـداء محمـد نـدیم سرپرسـت وزارت تحصـیلات عـالی در مراسـم پایـانی ایـن سـمینار بیـان داشت کـه در جامعـه اسلامی هـر مسلمان مکلف است تـا در مـورد دیـن و عقایـد خـویش معلومات داشته باشـد. موصـوف همچنـان خطـاب بـه محصـلین گفـت:« وحـــدت ملـــی را حفـــظ کنیـــد، از دیـــن و وطـــن تـــان محافظـت نمـوده زیـر تـاثیر تبلیغـات منفـی کفـار قـرار نگیرید».

سرپرســـت وزارت تحصـــیلات عـــالی از محصـــلان تقاضـــا نمـود کـه در کنـار آمـوزش هـای عصـری بـه آمـوزش هـای دینـی و عقیـدوی هـم توجـه نماینـد و آنچـه را کـه در ایـن سمینار فراگرفته اید عملی نمائید.

همـین گونـه دوکتـور اسـامه عزیـز رئـیس پوهنتـون کابـل، شـیخ شـاکر اللـه وحـدت رئـیس دعـوت و ارشـاد وزارت تحصـیلات عـالی، شـیخ محمـد اسـماعیل و شـیخ فقیـر اللـه فـایق در رابطـه بـه ارزش ایـن سـمینار صـحبت کردند.

قابـل ذکـر اسـت کـه در ایـن سـمینار یـک تعـداد محصـلین از پوهنتـون هـای کابـل، پـولی تخنیـک، تعلـیم وتربیـه، علـوم طبـی، غزنـی، تخنیکـی غزنـی، البیرونـی، پـروان، بامیـان، و موسسـه تحصـیلات عـالی پنجشـیر، دایکنـدی، میـدان وردگ ارزگـان، لـوگر و میرویس خان نیکه زابل اشتراک کرده بودند.

۱۰/۸/۱۴۴۵ هـ.ق ۲/۱۲/۱۴۰۲ هـ.ش ۲۱/۲/۲۰۲۴

## د خصوصي تحصیلي بنسټونو کمېسیون ناسته وشوه

د خصوصي تحصیلي بنسټونو کمېسیون ناسته د لوړو زده کړو سرپرست وزیر په مشرۍ ترسره شوه.
په پیل کې د لوړو زده کړو سرپرست وزیر شیخ الحدیث مولوي نداء محمد ندیم د یاد کمېسیون د ناستو د ګټو او ارزښت په اړه خبرې وکړې. هغه وویل چې دا ډول ناستې د خصوصي تحصیلي بنسټونو د ستونزو حل په موخه ترسره کېږي، تر څو اړوندو برخو کې د ټولنې د خلکو ستونزې حل شي او د هېواد په خصوصي سکتور کې علمي چارې لا معیاري شي.

د لوړو زده کړو سرپرست وزیر خصوصي او امارتي تحصیلي اداري د یوه هدف دوې لارې یادې کړې او د خصوصي تحصیلي بنسټونو کمېسیون پر دوامداره ناستو یې ټینګار وکړ.
ورپسې د خصوصي تحصیلي بنسټونو کمېسیون د ناستې په اجنډا کې د شاملو موضوعاتو په اړه هر اړخیز بحثونه او پرېکړې وشوې او همدارنګه د خصوصي تحصیلي بنسټونو د یو لړ ستونزو اړوند هم بحث وشو او د حل لارې ورته ولټول شوې.

۱۰/۸/۱۴۴۵ هـ.ق ۲/۱۲/۱۴۰۲ هـ.ش ۲۱/۲/۲۰۲۴ م

## شورای علمی پوهنتون علوم طبی کابل دایر گردید




شیخ الحدیث مولوی نداء محمد ندیم سرپرست وزارت تحصیلات عالی در شورای علمی پوهنتون علوم طبی کابل مشکلات و پیشنهادات استادان و مسوولان این پوهنتون را استماع نموده، روی موضوعات شامل آجندا با اعضای شورای علمی بحث و فیصله های لازم نمودند.
موصوف به مسوولین و استادان این پوهنتون اطمینان سپرد که از اندوخته های علمی و تجارب کاری آنان استفاده کرده در زمینه کار و تدریس برای آنان سهولت های لازم را مهیا میسازد. همچنان از استادان تقاضا کرد تا جهت خود کفایی بخش صحت در کشور و پیشرفت این پوهنتون نظریات، ضروریات و مشکلات شان را به گونه آزاد با وی شریک سازند.

سرپرست وزارت تحصیلات عالی به مسوولین پوهنتون علوم طبی کابل گفت« برای ما آموزش متخصصین لایق در کشور اولویت دارد و آماده رفع هر نوع مشکل در بخش طبی میباشیم».
سپس مطابق آجندای شورای علمی پوهنتون علوم طبی روی موضوعات شامل، بحث و فیصله های لازم صورت گرفت.

۱۴۴۵/۸/۱۷ هـ ق ۱۴۰۲/۱۲/۹ هـ ش ۲۰۲۴/۲/۲۸ م

# د کابل جامعة الایمان مدرسې فراغتغونډه وشوه

د کابـل جامعـة الایـمان مدرسـې د احـادیثو لـویې دورې ۹۲ فاضــلانو پــه فراغتغونــډه کــې د ۱.۱.۱ مشــرانو مســؤلینو، شــیوخو کرامــو او د فاضــلانو د کورنیــو غــړو ګډون کړی وو.

د ریاسـت الـوزراء سـیاسي مرسـتیال مولـوي عبـدالکبیر پـه یـادو مراسـمو کـې وویـل چـې د دیـن، هېـواد او حریـت سـاتل د همـدغو علـماء کرامـو، مدرسـو او جهـاد لـه برکتـه دی. نومـوړي زیاتـه کـړه چـې اسـلامي امـارت د عصـري زده کـړو او د هېـواد د ابـادۍ ترڅنـګ، دینـي زده کړو ته هم پاملرنه کوي.

دغـه راز د لـوړو زده کـړو سرپرسـت وزیـر شـیخ الحـدیث مولـوي نـداء محمـد نـدیم فـارغو فاضـلانو تـه پـه خطـاب کـې وویـل چـې اللـه تعـالی تاسـو تـه پـر سـتر مقـام سربېـره، د حـق وینـا، د ظلـم او خیانـت پـر وړانـدې دربـدلو او د اسـلامي نظـام د ملاتـړ مسـؤلیتونه در پـه غاړه کړي دي .

هغـه لـه یـادو فاضـلانو وغوښـتل چـې د خپلـو زده کـړو سلسـله جـاري وسـاتي، خلکـو تـه علـم او دیـن ورسـوي، خپـل مسـؤلیت، چـې د انبیـاء علیـه السـلام میـراث او د ځمکـې خلافـت دی، پـه سـم ډول اداکـړي، پـه منصـب او چوکیو پسې ونه ګرځي.

همـدا راز د لـوړو زده کـړو سرپرسـت وزیـر وویـل چـې د کفـارو د منفـي تبلیغـاتو او پروپاګنـډ پـر وړانـدې مبـارزه او ځـواب ویـل یـوازې د نظـام دنـده نـه، بلکـې د هـر عـالم او مسـلمان مسـؤلیت دی چـې د هغـوی نـاوړه اهـداف په ډاګه او پر وړاندې یې مبارزه وکړي.

د یـادونې وړ ده چـې د مراسـمو پـه پـای کـې د مـشرانو مسـؤلینو او شـیوخو کرامـو لـه لـوري فـارغو فاضـلانو تـه د فضیلت دستارونه وتړل شول.

۱۴۴۵/۸/۲۱ هـ ق ۱۴۰۲/۱۲/۱۳ هـ ش ۲۰۲۴/۳/۳ م

# د ۵۱ زره علماء کرامو د عالمیې مرحلې (ماسټري) اسنادو د ارزونې ازموینه واخیستل شوه

لـوړو زده کـړو وزارت د هېـواد ۵۱ زره علـماء کرامـو څخـه د عـالمیې مرحلـې (ماسـټري) اسـنادو د ارزونـې پـه موخه په اوو زونونو کې ازموینه واخیسته.

د لـوړو زده کـړو سرپرسـت وزیـر شـیخ الحـدیث مولـوي نـداء محمـد نـدیم لـه یـادې ازموینې څخـه د څـارنې پـه موخه کنـدهار ولایـت تـه سفر وکړ او په یاد ولایت کې یـې د هېـواد ټولـو زونونـو ازموینـه پـه رسـمي ډول پرانیسته.

نومـوړي د ازمـوینې پـه پرانیسـته کـې علـماء کرامـو تــه د ازمــوینې د روڼتیــا پــه اړه پــوره ډاډ ورکــړ، هغـوی تـه یـې د بریـا هیلـه وکـړه او ویـې ویـل چـې پــه دې پروســې سره بــه د علــماء کرامــو د اســنادو تثبیت وشي.

دغـــه راز د لـــوړو زده کـــړو وزارت علمـــي معـــین، د محصـلانو چـارو معـین، مـالي او اداري معـین، د مرکـزي ادارو رئـیس صـاحبانو، پـه زونونـو کـې د علـماء کرامـو شـورا غـړو، د جهـادي مدرسـو شـیوخ کرامـو، د ولایتـي ادارو اسـتازو او د اسـتخباراتو مسـؤلینو لـه یـادو ازموینـو څخه څارنه کوله.

د علـماء کرامـو د عـالمیې مرحلـې (ماسـټري) اسـنادو د ارزونــې ازموینــه هــم مهالــه د هېــواد پــه ۷ زونونــو (مرکـزي، جنـوبي، شـمالي، غـربي، جنـوب ختـیځ، جنـوب لوېـدیځ او شـمال ختـیځ) کـې پیـل شـوه او ټولـو هغـو علـماء کرامـو پکـې ګـډون کـړی، چـې نوملیکنـه یـې ورته کړې وه.

د یادونې وړ ده چـې دغـو علماء کرامـو تـه بـه پـه ازموینـه کـې لـه بریـا وروسـته د ماسـټرۍ معـادل اسـناد ورکـړل شي.

۱۴۴۵/۸/۲۶ هـ ق ۱۴۰۲/۱۲/۱۸ هـ ش ۲۰۲۴/۳/۸

# دویمه برخه

# د معینانو د سفرونو، غونډو او لیدنو راپورونه


د ښوونې او روزنې پوهنځیو د ژبو او ادبیاتو څانګو د بیاکتنې او پراختیا  دویم پړاو کلستر پیل شو ................................ ۲۹
معین علمی با رییس مجلس اداره التنال العربی کشور اردن دیدار کرد ...................................................................... ۲۹
کلستر دور دوم رشته های زبان و ادبیات پوهنځی های تعلیم و تربیه پایان یافت ................................................................ ۳۰
چهار پروژه انکشافی در شفاخانه تدریسی پوهنتون ننگرهار به بهره برداری سپرده شد.................................................... ۳۰
معین علمی با معاونان علمی نهاد های تحصیلی امارتی به گونه آنلاین نشست کرد.................................................... ۳۱
نشستی به منظور ایجاد شفاخانه تدریسی در پوهنځی طب پوهنتون اسلامی بین‌المللی افغان برگزار شد ............................ ۳۱
د انجنیري او کرنې څانګو د فوق لېسانس برنامو دریېم پړاو کلستر پای ته ورسید.................................................. ۳۲
معین علمی گزارش سفر کادر های علمی افغان به کشور پاکستان را استماع کرد ................................................. ۳۲
د افغانستان ښوونیزو او لوړو زده کړو بنسټونو پیاوړتیا ملي کنفرانس پای ته ورسید ............................................... ۳۳
د علمي پروګرامونو د علمي سروې او نظر شریکونې ورکشاپ جوړ شو ....................................................................... ۳۳
معین علمی با معاون مالی و اداری اداره ملی حفاظت از محیط زیست دیدار کرد ................................................. ۳٤
د علمي معینیت شورا غونډه وشوه ............................................................................................................ ۳٤
په ننګرهار پوهنتون کې د اقلیم بدلون نړیوال کنفرانس پای ته ورسېد............................................................. ۳٥
د علمي معینیت شورا ناسته وشوه ............................................................................................................ ۳٥
کلستر دور اول برنامه های فوق لیسانس رشته های زبان و ادبیات آغاز شد ......................................................... ۳٦
معین علمی به ولایت هرات سفر کرد........................................................................................................ ۳٦
د هرات پوهنتون د سړکونو چوک جوړونې پروژې پرانیسته وشوه ....................................................................... ۳۷
علمي معین له جامي خصوصي پوهنتون څخه لیدنه وکړه ................................................................................. ۳۷
د ښکلو هنرونو، ارواپوهنې، اختصاصي او مسلکي زده کړو پوهنځیو کلستر پیل شو ................................................ ۳۸
برنامه آموزشی ٤۱ روزه زبان عربی خاتمه یافت ............................................................................................ ۳۸
د کابل پوهنتون ۴۱ اداري خالي بستونو داوطلبانو څخه ازموینه واخیستل شوه ........................................................ ۳۹
د مالي او اداري معینیت شورا ناسته وشوه................................................................................................ ۳۹
د وزارت مرکزي ریاستونو او دویمي واحدونو د اداري مراسلاتو د ګړندي کېدلو کمېټې ناسته وکړه ................................ ٤۰
نشست کمیته موظف ترتیب طرح جامع مواد اعاشه وی سال مالی۱۴۰۳ دایر شد ................................................. ٤۰
د ثانویه، عالیه او عالمیه درجو کلنیو ازموینو لپاره د ممتحنو علماء کرامو سمینار جوړ شو ...................................... ٤۱
سفر رییس و استاد اداره التنال العربی کشور اردن پایان یافت.......................................................................... ٤۱
مالي او اداري معین د دیني علماء کرامو له ازموینې څخه څارنه وکړه .............................................................. ٤۲
معین مالی و اداری از جریان امتحانات سالانه مدارس دینی ولایت کندهار نظارت کرد......................................... ٤۲
په جنوب لوېدیځ زون کې د دیني علماء کرامو له ازموینې څخه  لیدنه او څارنه وشوه ......................................... ٤۳
از کاندیدان ۳۸ بست اداری امتحان اخذ شد.............................................................................................. ٤۳
د مالي او اداري معینیت شورا ناسته وشوه................................................................................................ ٤۳
از داوطلبان ۲۸ بست مسلکی شفاخانه های تدریسی امتحان اخذ شد.............................................................. ٤٤
د مالي او اداري معینیت شورا ناسته وشوه................................................................................................ ٤٤

# د ښوونې او روزنې پوهنځیو د ژبو او ادبیاتو څانګو د بیاکتنې او پراختیا دویم پړاو کلستر پیل شو

د هېواد تحصیلي بنسټونو د ښوونې او روزنې پوهنځیو د ژبو او ادبیاتو څانګو د بیاکتنې او پراختیا دویم پړاو کلستر پیل شو.

د یاد کلستر په پرانیسته کې د لوړو زده کړو وزارت علمي معین دوکتور لطف الله خیرخواه ژبه د علومو، ثقافتونو، افکارو او کلتورونو د تړاو او تعامل تر ټولو غوره وسیله وبلله او ویې ویل چې د ژبې او ادب قوت انسان ته پر نورو علومو او ثقافتونو د پوهېدو او تعامل توان وربښي.

د لوړو زده کړو وزارت علمي معین د لوستو کسانو او ټولنې تر منځ پر ښو اړیکو جوړولو ټینګار وکړ او ویې ویل چې دواړه اړخونه باید په ارزښتونو کې سره تړلي وي. نوموړي د یاد کلستر ګډونوالو ته سپارښتنه وکړه، چې په نصاب کې هغه مسایل ځای پر ځای کړي، چې د هېواد د داخلي ژبو اغېزه زیاته او د بهرنیو ژبو له اغېزې یې وساتي.

وروسته د تحصیلي نصاب د ملي کمېسیون غړي پوهندوی داود شاه فاروق د کلستر د کار بهیر په اړه معلومات ورکړل او په دې پړاو کې یې له ټاکل شوي چوکاټ سره سم د مفرداتو پر تکمیل ټینګار وکړ.

د یادونې وړ ده چې د دې کلستر په پنځو کاري ورځو کې به د ښوونې او روزنې څانګو د پښتو، دري، اوزبیکي، ترکمني، عربي، انګلیسي، روسي او ترکي ژبو پر نصابونو کار وشي.

۱۴۴۵/۶/۹هـ ق ۱۴۰۲/۱۰/۲ هـ ش ۲۰۲۳/۱۲/۲۳م

# معین علمی با رییس مجلس اداره التنال العربی کشور اردن دیدار کرد

معین علمی وزارت تحصیلات عالی در دفتر کارش با رییس مجلس اداره التنال العربی کشور اردن، که چند روز قبل برای تدویر کورس های عربی به افغانستان آمده بود، دیدار کرد.

در این دیدار دکتور لطف الله خیرخواه معین علمی وزارت تحصیلات عالی ضمن خوش آمد گویی به وی، در مورد چگونگی تقویت و پیشرفت زبان و ادبیات عربی در افغانستان، نصاب تحصیلی، میتود های تدریسی، تقویت کتابخانه ها، تحقیقات علمی و در زمینه همکاری های اداره یاد شده صحبت کرد.

سپس استاد دکتور عبدالرووف زهدی مصطفی رییس مجلس اداره التنال العربی کشور اردن طی صحبت های شان، از آمدن خویش به افغانستان ابراز خرسندی نموده، در مورد برنامه های شان که در بخش تدویر کورس های زبان عربی برای محصلان جامعه عبدالله بن مسعود (رضی الله عنه) داشتند معلومات داده، در قسمت موارد که از جانب معین علمی وزارت تحصیلات عالی مطرح گردید، وعده همکاری داد.

قابل ذکر است که استاد دکتور عبدالرووف زهدی مصطفی رییس مجلس اداره التنال العربی کشور اردن و همکار شان، هفته گذشته به دعوت وزارت تحصیلات عالی جهت همکاری و تقویت زبان عربی محصلان جامعه عبدالله بن مسعود (رضی الله عنه) و سایر همکاری های علمی به افغانستان تشریف آورده بودند.

۱۴۴۵/۶/۱۱ هـ ق ۱۴۰۲/۱۰/۴ هـ ش ۲۰۲۳/۱۲/۲۵ م



# کلستر دور دوم رشته های زبان و ادبیات پوهنځی های تعلیم و تربیه پایان یافت

کلستر دور دوم بازنگری و انکشاف نصاب تحصیلی رشته های زبان او ادبیات پوهنځی های تعلیم و تربیه موفقانه به پایان رسید.

مولوی حافظ محمد حامد حسیب معین مالی و اداری وزارت تحصیلات عالی در مراسم اختتامیه کلستر یاد شده بر ارزش نصاب تاکید کرده گفت که نصاب مناسب ترین راه برای انتقال علم به نسل های آینده است.

نامبرده تغییرات آمده در نصاب از سوی اعضای کلستر، نو سازی نصاب و ترتیب کردن آن مطابق نیاز های زمان را یک کار بنیادی خوانده و آن را یک صدقه جاریه عنوان کرد.

معین مالی و اداری وزارت تحصیلات عالی از تمام آن عده استادان و متخصصان ادارات ذیربط که در این کلستر شرکت کردند، قدر دانی کرده و برای ایشان از دربار الله تعالی اجر عظیم خواست.

همچنان پوهنوال عبدالرب منیب به نماینده گی کلستر زبان و ادبیات عربی، ترکی، ترکمنی و روسی، پوهنمل زاهد کریمزی زبان و ادبیات پشتو و انگلیسی پوهنوال حسن شاه رحیمی به نماینده گی کلستر زبان و ادبیات دری و ازبیکی گزارش کار پنج روزه شان را شریک کردند.

سپس پوهندوی داوود شاه فاروق عضو کمیسیون ملی نصاب تحصیلی کار کلستر یاد شده را مثبت ارزیابی کرده گفت که کار مطابق به چوکات انتخاب شده انجام گردیده و ما به اهداف خود رسیده ایم.

۱۴۴۵/۶/۱۳هـ. ق ۱۴۰۲/۱۰/٦هـ. ش ۲۰۲۳/۱۲/۲۷ م

## چهار پروژه انکشافی در شفاخانه تدریسی پوهنتون ننگرهار به بهره برداری سپرده شد

معین علمی وزارت تحصیلات عالی چهار پروژه انکشافی را بعد از تکمیل آن به ارزش ۵ میلیون افغانی در شفاخانه تدریسی پوهنتون ننگرهار به بهره برداری سپرد.

پروژه های انکشافی یاد شده شامل باز سازی بخش های مختلف وارد جراحی شفاخانه تدریسی، انتظار خانه پای وازان زن، کودکستان و پارک تفریحی می شود که در جریان سه ماه تکمیل شده است.

معین علمی وزارت تحصیلات عالی با حضور داشت رهبری پوهنتون و شفاخانه تدریسی ننگرهار در حالی که تعدادی از مسوولان اداره ولایتی ایشان را همراهی می کردند با قطع نوار پروژه های یاد شده را رسما به بهره برداری سپرد.

دوکتور لطف الله خیر خواه معین علمی وزارت تحصیلات عالی از تکمیل این پروژه ها ابراز خرسندی نموده و به داکتران و مسوولان شفاخانه یاد شده هدایت داد که در تربیه محصلان، عرضه خدمت به مریضان و در رابطه به بخش های علمی و تحقیقی شفاخانه توجه جدی کنند.

به گفته مسوولان پوهنتون تدریسی ننگرهار؛ طی عملی شدن این پروژه های انکشافی، بخش های جراحی زنانه و مردانه، بستر خانه ها، ICU و سالون کنفرانس ها به شکل اساسی باز سازی شده است.

همچنان یک انتظار خانه برای پای وازان زن و یک کودکستان که دارای سامان آلات بازی، اسباب تعلیم و استراحت و طعام خانه می شود در بخش نسایی ولادی ساخته شده و جهت آرامش ذهنی بیماران و مراجعین یک باب پارک در حویلی این شفاخانه نیز ساخته شده است.

۱۴۴۵/٦/۲۳ هـ ق ۱۴۰۲/۱۰/۱٦ هـ ش ۲۰۲۴/۱/٦ م

# معین علمی با معاونان علمی نهاد های تحصیلی امارتی به گونه آنلاین نشست کرد




معین علمی وزارت تحصیلات عالی طی جلسه آنلاین با معاونین علمی نهاد های تحصیلی امارتی در رابطه به (کنفرانس بین المللی آب - کابل) که قرار است در پوهنتون پولی تخنیک کابل دایر گردد صحبت نمود.

در آغاز این نشست دکتور لطف الله خیرخواه معین علمی وزارت تحصیلات عالی گفت: «در طول ۹۰ سال تاریخ تحصیلات عالی کشور مراکز تحصیلی را نگذاشته اند که رسالت شان را انجام بدهند و هیچ کسی حرف آنهارا نه شنیده و نه قبول کرده است، به همین ملحوظ در انجام رسالت اساسی شان با مشکل رو به رو بودند».

معین علمی همچنان آب را یک مسئله حیاتی بین‌المللی عنوان کرده گفت، بادر نظرداشت این ارزش، ما این کنفرانس را به سطح بین المللی پلان نمودیم و بعنوان یک آدرس مسلکی مسئولیت پذیرایی این کنفرانس را به پوهنتون پولی تخنیک کابل سپردیم.

همچنان در این کنفرانس رئیس و مسئولین پوهنتون پولی تخنیک و رئیس تالیف و ترجمه وزارت تحصیلات عالی بگونه حضوری و معاونان علمی نهاد های تحصیلی امارتی بگونه آنلاین شرکت کرده بودند که نظریات و پیشنهادات شان را با یکدیگر در حصه مدیریت درست این کنفرانس شریک کردند.

قرار است (کنفرانس بین المللی آب-کابل) در پوهنتون پولی تخنیک کابل به مدت سه روز با در نظر داشت پلان ریاست تحقیق، تالیف و ترجمه وزارت تحصیلات عالی به تاریخ اول جوزای سال روان با ارائه مقالات تحقیقی ملی و بین المللی دایر گردد.

۱۴۴۵/٦/۲۴ هـ ق ۱۴۰۲/۱۰/۱۷ هـ ش ۲۰۲۴/۱/۷ م

# نشستی به منظور ایجاد شفاخانه تدریسی در پوهنځی طب پوهنتون اسلامی بین‌المللی افغان برگزار شد



به منظور ایجاد شفاخانه تدریسی در چوکات پوهنځی طب پوهنتون اسلامی بین‌المللی افغان، نشستی تحت ریاست معین علمی وزارت تحصیلات عالی در پوهنتون یاد شده برگزار شد.

در آغاز این نشست، پوهندوی دکتور رفیع الله عطا سرپرست پوهنتون اسلامی بین‌المللی افغان، در مورد طرزالعمل ایجاد شفاخانه تدریسی در چوکات پوهنتون یاد شده معلومات همه جانبه ارایه کرد.

دکتور لطف الله خیرخواه معین علمی وزارت تحصیلات عالی بعد از استماع معلومات متذکره از کار های انجام شده ابراز خرسندی نموده افزود که با ایجاد شفاخانه تدریسی، زمینه آموزش های عملی برای محصلان فوق لیسانس این پوهنتون فراهم خواهد شد و محصلان پوهنځی طب به آموزش های عملی بهتری دسترسی خواهند یافت.

۱۴۴۵/٦/۲٦ هـ ق ۱۴۰۲/۱۰/۱۹ هـ ش ۲۰۲۴/۱/۹ م

# د انجنیري او کرنې پوهنځیو د فوق لیسانس برنامو دریېم پړاو کلستر پای ته ورسېد

د هېواد د لوړو زده کړو بنسټونو د انجنیري او کرنې
څانګو د فوق لیسانس برنامو دریېم پړاو کلستر پای
ته ورسېده.
د یاد کلستر د پای په مراسمو کې د لوړو زده کړو
وزارت علمي معین دوکتور لطف الله خیرخواه وویل:
«موږ او تاسو د نصاب په تړاو خبرې کوو؛ خو اصلاً دا
د نصاب متني برخه ده، چې تکمیلوي او موږ باید د
نصاب په اصلي مفهوم چې څېړنه، د دغې متنې
برخې لپاره تطبیقي اړخ او د استادانو تدریسي- مېتود
دی، کار وکړو.»
هغه دغه راز له پوهانو او تجربه لرونکو استادانو
وغوښتل، چې د نصاب د اصلي مفهوم اړوند د دې
وزارت سره خپل نظرونه او وړاندیزونه شریک کړي.
علمي معین د کلستر برخوالو او په ټوله کې د لوړو
زده کړو وزارت مسؤلینو او منسوبینو ته په خطاب کې
وویل، چې په نړۍ کې ډېر خلک په مختلفو څانګو
کې کار کوي؛ خو تاسو د علم په برخه کې خدمت
لري کوئ، چې دا ډېر ستر کار دی او د الله ﷻ په
وړاندې عظیم اجرونه لري.
وړپسې د تحصیلي نصاب د ملي کمېسیون غړي
پوهنوال داود شاه فاروق، د کلسترونو د مشرانو په
استازولۍ پوهاند سید محمد کبیر او پوهاند دوکتور
امان الله فقیري د فرعي کلسترونو په اړه لنډ راپور
ورکړ او د تکمیل شویو کلسترونو د منظورۍ ترڅنګ
یې یو شمېر نورې غوښتنې وکړې.
د یادونې وړ ده، چې دا د هېواد د پوهنتونونو د
انجنیري او کرنې د فوق لیسانس پروګرامونو د ۲۲
څانګو د نصاب د بیا کتنې او پراختیا دریېم پړاو
کلستر و، چې ورسره د یادو څانګو نصاب تکمیل او د
منظورۍ وروسته به په تحصیلي بنسټونو کې پلي
شي.

۱۴۴۵/٦/۲۷ هـ ق ۱۴۰۲/۱۰/۲۰ هـ ش ۲۰۲۴/۱/۱۰ م

# معین علمی گزارش سفر کادر های علمی افغان به کشور پاکستان را استماع کرد

معین علمی وزارت تحصیلات عالی در دفتر کارش
گزارش سفر علمی کادر های علمی افغان به کشور
پاکستان را از مسوول این سفر استماع کرد.
کادر های علمی نهاد های مختلف تحصیلی کشور
به دعوت رسمی کمیسیون تحصیلات عالی پاکستان
به هدف ارتقای ظرفیت و شریک سازی تجارب به
کشور پاکستان سفر کرده بودند که پس از برگشت
مسوول سفر یاد شده و داکتر سمیع الله سعید
معاون مالی و اداری پوهنتون هلمند دست آورد ها و
گزارش خویش را از این سفر با دوکتور لطف الله خیر
خواه معین علمی وزارت تحصیلات عالی شریک
کردند.
در دیدار یاد شده معین علمی وزارت
تحصیلات عالی بر روابط علمی و اکادمیک،
تفاهمنامه های دو جانبه و شریک سازی
تجارب پوهنتون های بین المللی با پوهنتون
های کشور تاکید کرد.
همچنان مسوول سفر یاد شده گفت که در
جریان این سفر در راستای مدیریت اکادمیک،
رهبری، تدریس و تحقیق معلومات به دست
آورده، از پوهنتون های مختلف و مراکز علمی
کشور پاکستان دیدن کرده، تجربه های
خویش را با ایشان شریک ساخته و از تجارب
آنان مستفید شده است.
قابل یاد آوری است که ۳۸ تن استاد از نهاد
های مختلف تحصیلی کشور در این سفر ۲۵
روزه علمی شامل بودند.

۱۴۴۵/۷/۲هـ ق ۱۴۰۲/۱۰/۲۴هـ ش ۲۰۲۴/۱/۱۴م

# د افغانستان ښوونیزو او لوړو زده کړو بنسټونو پیاوړتیا ملي کنفرانس پای ته ورسېد




د افغانستان ښوونیزو او لوړو زده کړو بنسټونو پیاوړتیا ملي کنفرانس چې کابل ښوونې او روزنې پوهنتون کې جوړ شوی و، پای ته ورسېد.

دغه دوه ورځنی ملي کنفرانس چې د لوړو زده کړو وزارت له لوري د تعلیمي او تحصیلي بنسټونو د ښه والي، پیاوړتیا، ننګونو او ستونزو د حل، د پوهنې او لوړو زده کړو وزارتونو تر منځ د همغږۍ او همکارۍ رامنځته کولو په موخه جوړ شوی و، چې پکې د بېلابېلو استادانو له لوري ۲۲ علمي-څېړنیزې مقالې وړاندې شوې، پای ته ورسېد.

د یاد کنفرانس د پای په مراسمو کې د لوړو زده کړو وزارت علمي معین دوکتور لطف الله خیرخواه تعلیم او تربیه د نظام له اساسي دندو څخه یوه دنده وبلله او ویې ویل: «پوهنتونونه باید په ملي قضایاوو کې خپل ملي رسالت اداء کړي او له علمي کادرونو او ملي پانګو څخه په پالیسۍ جوړونه کې ګټه واخلي.»

وروسته د پوهنې وزارت د سرچینو او اداري معین مولوي صبغت الله وصیل وویل: «یاد کنفرانس د تعلیمي او تحصیلي ډګرونو د قوت او ضعف ټکي ذکر کړل، وروسته له دې هڅه کوو چې د دغه کنفرانس پایلې په خپلو پالیسیو کې ځای پر ځای کړو.»

په پای کې د درجه بندۍ پر اساس د مقالو لیکوالو استادانو ته د لوړو زده کړو او پوهنې وزارتونو د مسؤلینو په لاس تندیسونه او ستاینلیکونه ووېشل شول.

۱۴۴۵/۷/۱۳ هـ ق ۱۴۰۲/۱۱/۵ هـ ش ۲۰۲۴/۱/۲۵ م

# د علمي پروګرامونو د علمي سروې او نظر شریکونې ورکشاپ جوړ شو

په کابل پولي تخنیک پوهنتون کې د علمي پروګرامونو په اړه د علمي سروې او نظر شریکونې ورکشاپ جوړ شو.

په یاد ورکشاپ کې د کابل پولي تخنیک پوهنتون مشرتابه پلاوي، د لوړو زده کړو وزارت علمي معین، د سکتوري وزارتونو استازو او استادانو ګډون کړی و .

د لوړو زده کړو وزارت علمي معین دوکتور لطف الله خیرخواه وویل چې د سکتوري وزارتونو سره د اړیکو ټینګول او د هېواد د پرمختګ لپاره د علمي پروګرامونو په جوړولو کې له نویو طرحو او نوښتونو څخه ګټه اخیستل اړین دي .

نوموړي د کابل پولي تخنیک پوهنتون دغه کار بې ساری ګام او لویه لاسته راوړنه وبلله او د پوهنتون مسؤلینو ته یې په دې برخه کې د هر ډول همکاریو ډاډ ورکړ .

همدا راز د سکتوري وزارتونو په استازیتوب د اوبو او انرژۍ وزارت د اوبو چارو د تنظیم رئیس انجنیر محمد نعمان نثار د سکتوري ادارو او تخنیکي پوهنتونونو تر منځ پر ګډو همکاریو د ټینګار تر څنګ، وویل چې د محصلینو درسي مواد او لابراتوارونه باید تجهیز او معیاري شي.

په پای کې د سمینار ګډونوال د نظر اخیستلو په موخه په اتو کاري ګروپونو ووېشل شول او په ازاد او شفاف ډول یې په فورمونو کې خپلې تبصرې او نظرونه شریک کړل.

# معین علمی با معاون مالی و اداری اداره ملی حفاظت از محیط زیست دیدار کرد

معین علمی وزارت تحصیلات عالی در دفتر کارش با معاون مالی و اداری اداره ملی حفاظت از محیط زیست در رابطه به چگونگی برگزاری (کنفرانس بین المللی تغییر اقلیم) در پوهنتون ننگرهار دیدار کرد.


تغییر اقلیم یک معضله بزرگ جهانی میباشد که هر روز گراف ضرر آن در حال افزایش بوده و زندگی بشریت را متضرر ساخته است، پوهنتون ننگرهار در نظر دارد با همکاری وزارت تحصیلات عالی در رابطه به تغییر اقلیم به تاریخ ۲۱ ماه دلو سال روان کنفرانس علمی- تحقیقی را راه اندازی نماید.

در این کنفرانس مقالات تحقیقی مختلف توسط استادان نهاد های تحصیلی داخلی و خارجی ارایه میگردد که نتیجه آن توسط وزارت تحصیلات عالی به هدف ترتیب استراتیژی با وزارت خانه ها و ادارات مرتبط شریک ساخته می شود.

دوکتور لطف الله خیرخواه معین علمی وزارت تحصیلات عالی به منظور چگونگی این کنفرانس در حالیکه معاون علمی پوهنتون ننگرهار نیز حضور داشت با مولوی عبدالسلام حقانی معاون مالی واداری اداره ملی حفاظت از محیط زیست و مسوولین آن دیدار کرد.

در این نشست هردو طرف نظریات شان را راجع به چگونگی کنفرانس، مدیریت کنفرانس و راه های قبل از برگزاری کنفرانس شریک ساختند.

۱۹/۷/۱۴۴۵ هـ ق
۱۱/۱۱/۱۴۰۲ هـ ش
۳۱/۱/۲۰۲۴ م



# د علمي معينيت شورا غونډه وشوه

د لوړو زده کړو وزارت د علمي معينيت شورا غونډه د دغه وزارت علمي معين په مشرۍ ترسره شوه.

د غونډې په پیل کې د لوړو زده کړو وزارت علمي معین دوکتور لطف الله خیرخواه د هېواد د تحصیلي نظام پروګرامونو او پلانونو په اړه خبرې وکړې او له اړوندو رئیسانو څخه یې وغوښتل چې د دې پروګرامونو پرمختګ او تطبیق کې لا زیاتې هڅې وکړي.

ورپسې د اجنډا سره سم د شورا غړو د استادانو د هغو ستونزو په اړه د موظفي کمېټې راپور واورېد، چې په بهر کې د ماسترۍ او دوکتورا په زده کړو بوخت وو او په هېواد کې د کرونا ویروس له خپرېدو او سیاسي تحولاتو وروسته یې تحصیلي بهیر له ستونزو سره مخ شوی و. همدارنګه په دې تړاو هر اړخیز بحثونه وشول.

دغه راز په دې ناسته کې د خصوصي تحصیلي بنسټونو د تولنیزو علومو پوهنځیو کې د فوق لیسانس پروګرامونو د تحصیلي نصاب د ګټې اخیستنې پر څرنګوالي، د علمي کادر د تقرر او انفکاک د دوسیو او یو شمېر نورو اړوندو موضوعاتو په اړه خبرې وشوې او لازم تصمیمونه ونیول شول.

۱۴۴۵/۷/۲۲ هـ ق ۱۴۰۲/۱۱/۱۴ هـ ش ۲۰۲۴/۲/۳ م

## په ننګرهار پوهنتون کې د اقلیم بدلون نړیوال کنفرانس پای ته ورسېد




په ننګرهار پوهنتون کې "د اقلیم بدلون نړیوال کنفرانس" چې د داخلي او بهرنیو هېوادونو استادانو په ګډون سره پیل شوی و، پای ته ورسېد.

د یاد کنفرانس د پای په مراسمو کې، چې د ننګرهار ښېوې ولسوالۍ اړوند د ناکامورا پارک کې ترسره شول، د لوړو زده کړو وزارت علمي معین دوکتور لطف الله خیرخواه د دغې نړیوالې موضوع په اړه کنفرانس کې د بهرنیو او کورنیو څېړونکو استادانو او ټولو برخوالو د پراخ ګډون او د ننګرهار ولایتي مسؤلینو څخه د همکاریو له امله مننه وکړه.

نوموړي وویل " د افغانستان د لوړو زده کړو وزارت په تاریخ کې په لومړي ځل دغه ډول نړیوال کنفرانس ترسره شو، پکار ده چې په ملي او نړیواله کچه د داسې سترو موضوعاتو په اړه په جدیت او لیوالتیا سره تعامل وشي".

همدارنګه د بهرنیو هېوادونو څېړونکو او استادانو وویل چې افغانستان تېرو څلورو لسیزو کې له هره اړخه ځپل شوی هېواد دی او زموږ د موندنو او لیدنو په اساس باید له دې ولس سره مرستې وشي.

یادو استادانو دغه راز وویل چې افغانستان د اقلیم په خرابوالي کې هیڅ ډول برخه نه لري او برعکس یې زیانونه ګالي، د هغوی په وینا چې نوره نړۍ باید افغانانو سره په دا ډول بشري موضوعاتو کې سیاسي برخورد ونکړي.

د یادونې وړ ده، چې د دغه درې ورځني نړیوال کنفرانس په وروستۍ ورځ هم (۴۱) څېړنیز پوسترونه ارایه شول او کنفرانس د تندیسونو، تصدیقونو او ستاینلیکونو په وېشلو سره پای ته ورسېد.

۱/۸/۱۴۴۵ هـ ق ۲۳/۱۱/۱۴۰۲ هـ ش ۱۲/۲/۲۰۲۴ م

## د علمي معینیت شورا ناسته وشوه

د لوړو زده کړو وزارت علمي معینیت شورا ناسته د دغه وزارت علمي معین په مشرۍ ترسره شوه.

د ناستې په پیل کې د لوړو زده کړو وزارت علمي معین دوکتور لطف الله خیرخواه د شورا غړو او اړوندو رئیسانو ته په اداري برخو کې د لا زیات کار کولو او همغږۍ په اړه لازمې سپارښتنې وکړې.

همدارنګه د تېرې شورا پرېکړو ته لنډه کتنه وشوه او د اجنډا سره سم د یو شمېر خصوصي پوهنتونونو سره د هوکړه لیکونو په زمینه سازۍ او څرنګوالي، د یو شمېر غایبو علمي کادر غړو د بیا تقرر، له یو ډیپارټمنټ څخه بل ډیپارټمنټ ته د استاد پر تبدیلۍ او پر یو شمېر نورو علمي او متفرقه موضوعاتو بحث او اړینې پرېکړې وشوې.

۱۴٤٥/٨/١٠هـ.ق ۲/ ۱۲/ ۱۴۰۳هـ. ش ۲۰۲۴/ ۲/ ۲۱

# کلستر دور اول برنامه های فوق لیسانس رشته های زبان و ادبیات آغاز شد

کلستر دور اول بازنگری و انکشاف نصاب تحصیلی برنامه های فوق لیسانس رشته های زبان و ادبیات پوهنتون های کشور آغاز شد.

در مراسم افتتاحیه کلستر متذکره دکتور لطف الله خیر خواه معین علمی وزارت تحصیلات عالی روی اهمیت زبان و متخصصان این بخش در تقویت و نگهداری هویت، فرهنگ و تاریخ یک کشور صحبت کرد.

وی اضافه کرده گفت که فارغان این بخش در کنار آموزش های مسلکی، از نگاه فکری و هویتی نیز باید تحت آموزش قرار گیرند و در مقابل موضوعات تاریخی و فرهنگی کشور بی اعتنا نباشند.

معین علمی وزارت تحصیلات عالی همچنان از استادان و فرهنگیان کشور خواست که روی تقویت زبان های ملی و همچنان فرهنگ کشور طوری کار کنند که در تماس با سایر فرهنگ ها اصالت خویش را از دست نه داده و بتوانند جنبه های مثبت سایر فرهنگ ها را در خود جذب کنند.

در مراسم یاد شده مفتی عبدالرؤف فراهی رئیس نصاب تحصیلی وزارت تحصیلات عالی نیز طی صحبت های شان از برگزاری دور اول کلستر یاد شده ابراز خرسندی کرده بر آموزش های فکری و تربیتی محصلان تاکید کرد.

سپس پوهندوی داود شاه فاروق عضو کمیسیون ملی نصاب تحصیلی در مورد کار شیوه و سایر موضوعات مرتبط به کلستر برنامه های فوق لیسانس، معلومات ارایه کرد.

۱۴۴۵/۸/٦ هـ ق ۱۴۰۲/۱۱/۲۸ هـ ش ۲۰۲۴/۲/۱۷ م

# معین علمی به ولایت هرات سفر کرد




معین علمی وزارت تحصیلات عالی طی سفر رسمی به ولایت هرات با هیئت رهبری پوهنتون هرات دیدار کرد.

دکتور لطف الله خیرخواه معین علمی وزارت تحصیلات عالی با هیئت همراه شان طی سفر رسمی به ولایت هرات با هیئت رهبری پوهنتون هرات در دفتر ریاست پوهنتون دیدار کرد.

دراین دیدار پوهاند دکتور عزیزالرحمن نیازی معاون تحقیقات و مجله علمی و سرپرست پوهنتون هرات بعد از خوش آمدید گویی به مهمانان، در مورد برنامه‌های علمی، انکشافی و زیربنایی پوهنتون هرات صحبت کرد.

قرار است معین علمی وزارت تحصیلات عالی ضمن دیدار با استادان پوهنتون یاد شده، از پروژه های انکشافی این نهاد علمی نیز دیدار کند.

۱۳/۸/۱۴۴۵ هـ.ق ۵/۱۲/۱۴۰۲ هـ.ش ۲۴/۲/۲۰۲۴ م



## د هرات پوهنتون د سړکونو چوک جوړونې پروژې پرانیسته وشوه

د لــوړو زده کــړو وزارت علمــي معــین د هــرات پوهنتون د سړکونو چوک جوړونې پروژه پرانیسته.

د لــوړو زده کــړو وزارت علمــي معــین دوکتــور لطــف الله خیرخواه هــرات ولایــت تــه پــه خپــل رسمي سفر کــې، پــه داســې حــال کــې چــې د هــرات پوهنتــون سرپرست رئیس او مشرتابه پـلاوي هـم حضـور درلـود، د هــرات پوهنتــون داخــلي ســړکونو د چــوک جــوړونې پروژې پرانیسته وکړه .

یــادو مســؤلینو دا ډول پــروژې د پوهنتونــو ودانولــو، پرمختــګ او ښــکلا لپــاره مهمــې وبللــې او د هــرات پوهنتون لـه مسؤلینو څخـه یـې وغوښـتل چې ساتنې ته یې پاملرنه وکړي .

د یــادونې وړ ده چــې لــوړو زده کــړو وزارت د هېــواد پــه نــورو پوهنتونــو کــې هــم بــېلا بېلــې پراختیــایي پــروژې پلې کړي دي .

۱۴۴۵/۸/۱۵ هـ ق ۱۴۰۲/۱۲/۷ هـ ش ۲۰۲۴/۲/۲٦ م

## علمي معین له جامي خصوصي پوهنتون څخه لیدنه وکړه




د لوړو زده کړو وزارت علمي معین او مل پلاوي د هرات ولایت له جامي خصــوصي پوهنتون څخه لیدنه وکړه او د دغه پوهنتون بېلابېلې برخې یې وارزولې.

د لوړو زده کړو وزارت علمـي معین دوکتور لطف الله خیرخواه او مل پلاوي هرات ولایت ته د یوه کاري ســفر په ترځ کې د یاد پوهنتون د بېلابېلو برخو نظارت او ارزونه وکړه.

پـه دې لیـدنـه کې علمي معین د هرات ولایت د جامي پوهنتون د علمي، تدریــسي او اداري بنسټونو او تاسیساتو د ارزونې ترڅنګ، د لا ښــه خدمتونو د وړاندې په پار د یاد پوهنتون مسوولینو ته لازمې لارښوونې وکړې.

۱۴۴۵/۸/۱٦ هـ ق ۱۴۰۲/۱۲/۸ هـ ش ۲۰۲۴/۲/۲۷ م

## د ښکلو هنرونو، ارواپوهنې، اختصاصي او مسلکي زده کړو پوهنځيو کلستر پيل شو

د تحصيلي بنسټونو د ښکلو هنرونو، اروپوهنې، اختصاصي او مسلکي زده کړو پوهنځيو اړوند څانګو د تحصيلي نصاب بياکتنې او پراختيا دربېم پړاو کلستر پيل شو.

د ياد کلسټر د پرانيسټې په مراسمو کې د لوړو زده کړو وزارت علمي معين دوکتور لطف الله خيرخواه د هېواد پر تحصيلي نظام د ښوونې او روزنې ځانګې اغېز او په ټولنه کې د علم په اړه د شته فکر پر بدلون خبرې وکړې.

نوموړي زياته کړه: «تر څو چې د ښوونې او روزنې برخې ته اساسي پام ونه شي، معياري تحصيلي نظام او غوره محصل لرل ناممکن دي.» د هغه په وينا؛ که څه هم په افغانستان کې ښوونه او روزنه اوږد تاريخ لري، خو بيا هم ډېرې ستونزې پکې دي، چې په مسلکي چلند او د ټولنې ليدلورې په تغير سره يې اصلاح کولی شو.

د لوړو زده کړو وزارت علمي معين د ښکلو هنرونو څانګو پر ګټو خبرې وکړې او د دې څانګو له استادانو يې وغوښتل چې د يادو څانګو پر ارزښت او ټولنې ته يې د ګټو په اړه معلومات ورکړي او هنر په ذاتي ډول خلکو ته ورو پېژني.

وروسته د تحصيلي نصاب د ملي کميسيون غړي پوهندوی داود شاه فاروق د کلسټر غړو پنځه ورځنۍ اجنډا په اړه معلومات ورکړل او ويې ويل چې په دې کلسټر کې به د يادو څانګو د نصاب جمع بندي، د متنونو کلي ترتيب او بياکتنه، صحافت او ډيزاين وشي.

د يادونې وړ ده چې لوړو زده کړو وزارت څه موده مخکې «د افغانستان ښوونيزو او لوړو زده کړو بنسټونو پياوړتيا ملي کنفرانس» تر عنوان لاندې کنفرانس داير کړی و، چې پکې د ښوونې او رزونې متخصصينو او استادانو د هېواد ښوونې او رزونې او تحصيلي نظام پر څواکمنتيا، پرمختګ او د ستونزو پر حلارو خپلې مقالې وړاندې کړې.

۱۴۴۵/۸/۲۰ هـ ق ۱۴۰۲/۱۲/۱۲ هـ ش ۲۰۲۴/۳/۲

## برنامه آموزشی ٤١ روزه زبان عربی خاتمه یافت

کورس آموزشی زبان عربی ۴۱ روزه که از سوی ریاست تخصصات دینی جامعه عبدالله بن مسعود رضی الله عنه، برای فارغان دوره های مختلف مدارس دینی کشور دایر شده بود، پایان یافت.

در محفلی که به این منظور در جامعه عبدالله بن مسعود رضی الله عنه دایر شد، دوکتور لطف الله خیرخواه معین علمی وزارت تحصیلات عالی در حالیکه مولوی حافظ محمد حامد حسیب معین مالی و اداری این وزارت نیز حضور داشت، ضمن تبریکی به فارغان کورس یاد شده، پیرامون ماهیت و اهمیت زبان به ویژه زبان عربی صحبت کرد.

دوکتور خیرخواه همچنان در ادامه صحبت های خویش ضمن ارایه معلومات در رابطه به فصاحت، بلاغت و غنامندی زبان عربی، از طلباء کرام و فارغان مدارس خواست که از همچو کورس ها استفاده اعظمی نمایند.

وی اضافه نموده گفت: « زبان نه تنها وسیله افهام و تفهیم بوده، بلکه مفاهیم بزرگتری که شامل فرهنگ، تاریخ و ارزش های یک جامعه می باشد را نیز در خود گنجانیده است.» موصوف همچنان روی نقش تربیتی زبان در تکوین فکر و شخصیت انسان ها تاکید نمود.

سپس شیخ عبدالمالک نیازی مسوول برگزاری و استاد کورس یاد شده در مورد این کورس معلومات داده گفت که در این برنامه آموزشی ۱۷۰ تن از فارغان مدارس دینی اشتراک کرده بودند که ۴۱ روز ادامه داشت.

قابل ذکر است که سال گذشته نیز حدود ۱۷۰ تن از دور اول این کورس فارغ شده بودند و به گفته مسؤولان قرار است این برنامه آموزشی سال آینده نیز ادامه یابد.

۱۴۴۵/۸/۲۳ هـ ق ۱۴۰۲/۱۲/۱۵ هـ ش ۲۰۲۴/۳/۵ م

# د کابل پوهنتون ۴۱ اداري خالي بستونو داوطلبانو څخه ازموینه واخیستل شوه




د کابل پوهنتون ۴۱ اداري خالي بستونو لپاره له ۱۴۵۱ داوطلبانو څخه د ازادي سيالۍ له لارې ازموينه واخيستل شوه.

د لوړو زده کړو وزارت ازموينې کمېټې او د دغه وزارت مالي او اداري معين له لوري په کابل پوهنتون کې د ياد پوهنتون اداري خالي بستونو لپاره ازموينه واخيستل شوه .

د ازموينې په پرانيسته کې د لوړو زده کړو وزارت مالي او اداري معين مولوي حافظ محمد حامد حسيب د ازموينې پر روڼتيا خبرې وکړې او ويې ويل: «لکه څرنګه چې ازموينې ته د نوملیکنې او شارټ لیست پروسه شفافه وه، په همدې ډول به ازموينه او د پایلو اعلان شفاف وي.»

نوموړي داوطلبانو ته ډاډ ورکړ چې په ازموینه کې به وړ کسان بريالي کېږي او اداري خالي بستونو ته به لار پیداکوي.

وروسته د لوړو زده کړو وزارت مالي او اداري معين، د دغه وزارت ازموينو کمېټې، د کابل پوهنتون مسؤلینو، په ازموینه کې د ګډون کوونکو او رسنیو استازو په حضور کې د پوښتنو صندوق پرانیست.

په یادو بستونو کې د درېیم، څلورم، پنځم او شپږمو رتبو بستونه شامل دي، چې د ازادي سیالۍ له لارې به پکې وړ کسانو ته د خدمت زمینه برابره شي. د یادونې وړ ده چې تر دې وړاندې لوړو زده کړو وزارت د ولایتي تحصیلي بنسټونو اداري خالي بستونو لپاره ازمويني اخیستي وي.

۱۴۴۵/۶/۱۰هـ ق ۱۴۰۲/۱۰/۳ هـ ش ۲۰۲۳/۱۲/۲۴م

# د مالي او اداري معينيت شورا ناسته وشوه

د لوړو زده کړو وزارت مالي او اداري معينيت شورا ناسته د دغه وزارت مالي او اداري معين په مشرۍ ترسره شوه.

په پیل کې د لوړو زده کړو وزارت مالي او اداري معین مولوي حافظ محمد حامد حسیب د اداري کارونو په ښه والي او چټکتیا کې د ناستو پر ارزښت خبرې وکړې او هېوادوالو ته پر غوره خدمتونو وړاندې کولو یې ټینګار وکړ.

نوموړي وویل چې د الله تعالی په فضل سره په ټول هېواد کې سوله ده او هېوادوال د اسلامي نظام تر حاکمیت لاندې ژوند کوي. هغه زیاته کړه چې نظام مکلف دی چې خلکو ته ښه او په خپل وخت خدمتونه وړاندې کړي، ځکه په صادقانه ډول خلکو ته د خدمتونو وړاندې کول د اسلام په مبین دین کې عبادت ګڼل کېږي.

وروسته له اجنډا سره سم د تېرې شورا راپورونه واورېدل شول او د ۱۴۰۳هـ.ش مالي کال بودیجې، د کابل پوهنتون ژورنالېزم او عامه اړیکو پوهنځي شپنۍ برنامې د عوایدو او لګښتونو، د لیلیو د خوړو مینو، د وزارت زړو وسایطو د لیلام او پر نورو موضوعاتو بحث او لازمي پرېکړې وشوې.

۱۴۴۵/۶/۲۶هـ ق ۱۴۰۲/۱۰/۱۹ هـ ش ۲۰۲۴/۱/۹م

# د وزارت مرکزي رياستونو او دويمي واحدونو د اداري مراسلاتو د ګړندي کېدلو کمېټې ناسته وکړه

د لوړو زده کړو وزارت مالي او اداري معين په مشرۍ د وزارت مرکزي رياستونو او دويمي واحدونو له لوري اداري مراسلاتو (رسمي ليکونو او اسنادو) د کړنو د ګړندي کېدلو کمېټې ناسته وکړه.

د ناستې په پيل کې د لوړو زده کړو وزارت مالي او اداري معين مولوي حافظ محمد حامد حسيب د دغې کمېټې او ناستې په اړه وويل « د کمېټې او ناستې هدف دا دی، چې د اسلامي نظام تر چتر لاندې اداري چارې په ښه فکر او ښه عقيده پر مخ ولاړې شي، د اداري مراسلاتو چارې چټکې، ستونزې په ګوته او حل لارې ورته پيدا شي».

هغه دغه راز وويل چې مسؤليت د الله ﷻ له لوري يو امانت دی او کله چې دغه امانت په غاړه اخلو، نو پر موږ لازم دی چې حق يې ادا کړو او په اخلاص ورته کار وکړو.

په ناسته کې همدارنګه د وزارت د مرکزي رياستونو او دويمي واحدونو د فزيکي مراسلاتو په چارو کې د ستونزو، خنډونو او ورته د حل لارو چارو برابرولو چک لېست پر غني کولو او معياري کولو د کمېټې د غړو نظرونه او وړانديزونه واخيستل شول.

د يادونې وړ ده، چې دغه کمېټه د لوړو زده کړو وزارت د رهبري شوار د پرېکړې په اساس جوړه شوې ترڅو د وزارت د مرکزي رياستونو او دويمي واحدونو اداري مراسلاتو (رسمي ليکونو او اسنادو) د چارو ګړنديتوب لپاره کار وکړي.

۱۴۴۵/٦/۲٦ هـ ق ۱۴۰۲/۱۰/۱۹ هـ ش ۲۰۲۴/۱/۹ م

# نشست کمیته موظف ترتیب طرح جامع مواد اعاشه وی سال مالی ۱۴۰۳ دایر شد



نشست کمیته موظف ترتیب طرح جامع مواد اعاشه وی سال مالی ۱۴۰۳ پنج اداره به ریاست مولوی حافظ محمد حامد حسیب معین مالی و اداری وزارت تحصیلات عالی برگزار شد.

در نشست یاد شده که شماری از رییسان وزارت تحصیلات عالی و نماینده گان پنج اداره امارتی نیز حضور داشتند روی ترتیب طرح جامع مواد اعاشه وی سال ۱۴۰۳ به ریاست معین مالی و اداری این وزارت بحث و گفتگو صورت گرفت.

مولوی عبدالرازق رفیع رییس شرکت ارزاق در آغاز این نشست گفت که با روی کار آمدن امارت اسلامی ۴۲ شرکت ارزاق فعالیت می کنند که قبلاَ فعالیت چندانی نه داشته است.

وی به اشتراک کننده گان گفت چون شرکت ارزاق یک شرکت امارتی است و شرکت های امارتی برای منافع امارت اسلامی کار کرده و همچنان از محصولات وطنی استفاده می کنند، به همین منظور از شرکت کننده گان خواست تا قرار داد های خویش را با شرکت ارزاق نهایی کنند.

در همین حال نماینده گان ۵ اداره امارتی مشکلات و شرایط خویش را با شرکت ارزاق شریک ساختند.

در پایان این نشست معین مالی و اداری وزارت تحصیلات عالی برای هر اداره مسوولیت سپرد تا طی پنج روز آینده یک تن را به عنوان نماینده تعیین نموده تا طرح خود را ترتیب کرده در جلسه بعدی ارایه کنند.

۱۴۴۵/٦/۲۷ هـ ق ۱۴۰۲/۱۰/۲۰ هـ ش ۲۰۲۴/۱/۱۰ م

## د ثانویه، عالیه او عالمیه درجو کلنیو ازموینو لپاره د ممتحنو علماء کرامو سمینار جوړ شو

د ثانویه، عالیه او عالمیه درجو د کلنیو ازموینو د اخیستلو په موخه د ممتحنو علماوو لپاره یو ورځنی سمینار جوړ شو او دیادو شویو ازموینو د میتودونو په اړه معلومات ورکړل شول.

دغه ازموینې چې د لوړو زده کړو او پوهنې وزارتونو له خوا په ګډه اخیستل کېږي، د یادو وزارتونو مسوولینو د ازموینو د اخیستلو د پروسې په اړه ممتحنو علماوو ته معلومات ورکړل.

په دغه سمینار کې د لوړو زده کړو وزارت مالي او اداري معین مولوي حافظ محمد حامد حسیب د ازموینې پر مهال د ممتحنو علماوو د مسوولیتونو په اړه معلومات ورکړل او ویې ویل، چې د دغو ازموینو اخیستل یو مهم او اساسي کار دی چې د ممتحن علماء یې باید په پام کې ونیسي.

هغه زیاته کړه، په ټولو ولایتونو کې د پوهنتونونو رییسانو، د پوهنې رییسانو، د دیني جامعاتو مسوولینو او یو شمېر نورو ادارو کمیټو ته دنده سپارل شوې چې د یادو ازموینو په ترسره کولو کې همکاري وکړي.

همدارنګه په یاد سمینار کې د پوهنې وزارت د اسلامي زده کړو معین شیخ کرامت الله اخندزاده د لوړو زده کړو او پوهنې وزارتونو د طالب العمانو او د مدرسو او جامعو فاضلانو د ګډو ازموینو د پروسې په اړه ممتحنو علماوو ته هر اړخیز معلومات وړاندې کړل.

ده وویل چې د نوي طرزالعمل له مخې به د ثانویه دورې فارغانو ته د بکلوریا، د عالیه دورې فارغانو ته د لیسانس او د عالمیه دورې فارغانو ته د ماسټرۍ سند ورکول کېږي.

وروسته د پوهنې وزارت معین مولوي سخا الله سعید، د لوړو زده کړو وزارت د دیني تخصصاتو عمومي رئیس مولوي اسدالله فرید او د لوړو زده کړو وزارت د څېړنو، تالیف او ژباړې رئیس ډاکټر حمیدالله مزمل د یادو ازموینو د موضوعاتو په اړه خبرې وکړې او پوښتنو ته یې ځوابونه وویل.

۱۴۴۵/۷/۸هـ ق ۱۴۰۲/۱۰/۳۰هـ ش ۲۰۲۳/۱/۲۰م

## سفر رییس و استاد اداره التنال العربی کشور اردن پایان یافت




رییس و استاد اداره التنـال العربـی کشـور اردن سـفر خـود در افغانسـتان را بـه پایـان رسانید. دوکتور عبدالرؤف زهـدی مصطفی رییس اداره التنـال العربـی و استاد دوکتور غازی بن احمد آل مریش که چند مدت قبل برای دایر کردن کورس های زبان عربی به افغانستان آمده بودند، سفر علمی خویش را به پایان رسانیدند که از سوی مولوی حافظ محمد حامد حسیب معین مالی و اداری وزارت تحصیلات عالی به ایشان تقدیر نامه اهدا شد. قابل یاد آوری است که یک تن از این دو استاد چند مدت قبل به کشور خود برگشته بود.

۱۴۴۵/۷/٦هـ ق ۱۴۰۲/۱۰/۲۸هـ ش ۲۰۲۳/۱/۱۸

## مالي او اداري معين د ديني علماء کرامو له ازموينې څخه څارنه وکړه

د لوړو زده کړو وزارت مالي او اداري معين مولوي حافظ محمد حامد حسيب، د هېواد ديني علماء کرامو د ثانويې، عاليې او عالميې درجو د کلنۍ ازموينې څخه د څارنې په موخه د هېواد جنوب لوېديځ زون ته سفر وکړ او د زابل ولايت علماء کرامو له ازموينې څخه يې ليدنه او څارنه وکړه.

نوموړي د ازموينې ګډونوالو ته د ازموينې د روڼتيا په اړه ډاد ورکړ او هغوی ته يې د بريا هيله وکړه.

د يادونې وړ ده چې دغه ازموينې د هېواد په ۳۴ ولايتونو کې پيل او ٦ ورځې به دوام وکړي.

۱۴۴۵/۷/۹ هـ ق ۱۴۰۲/۱۱/۱ هـ ش ۲۰۲۴/۱/۲۱ م

## معین مالی و اداری از جریان امتحانات سالانه مدارس دینی ولایت کندهار نظارت کرد



معین مالی و اداری وزارت تحصیلات عالی در ادامه بررسی و نظارت از جریان امتحانات سالانه مدارس دینی، از روند این امتحانات در ولایت کندهار نظارت و بررسی به عمل آورد.

مولوی حافظ محمد حامد حسیب معین مالی و اداری وزارت تحصیلات عالی ضمن بررسی و نظارت از جریان امتحانات یاد شده در مدرسه جهادی، لیسه احمد شاه بابا و لیسه تجربوی ولایت کندهار؛ در مورد پروسه امتحان و سایر موضوعات مرتبط به آن معلومات ارایه کرد.

وی همچنان از علمای کرام ممتحن خواست که با دقت و نظم کامل پروسه امتحان را مدیریت کرده و در حل مشکلات شاملان امتحان با جبین باز همکاری نمایند.

قابل ذکر است که در این امتحانات، طلاب کرام و فاضلان دوره های عالمیه، عالیه و خامسهٔ مدارس دینی کشور اشتراک کرده اند که پروسه امتحانات شان از تاریخ ۳۰ جدی آغاز شده و الی ۵ دلو ادامه خواهد داشت.

۱۴۴۵/۷/۱۱ هـ ق ۱۴۰۲/۱۱/۳ هـ ش ۲۰۲۴/۱/۲۳ م

# په جنوب لوېدیځ زون کې د دیني علماء کرامو له ازمویني څخه لیدنه او څارنه وشوه

د لـوړو زده کـړو وزارت مـالي او اداري معـین جنـوب لوېـدیځ زون تـه د خپـل رسـمي سـفر پـه تـرڅ کـې د اروزګـان ولایت دینـي علماء کرامـو د کلنـی ازمـویني لـه جریان څخه لیدنه او څارنه وکړه.

د لـوړو زده کـړو وزارت مـالي او اداري معـین مولـوي حـافظ محمـد حامـد حسـیب د دینـي علمـاء کرامـو لـه ازمـویني څخه د لیدني او څارني پر مهال ګـډونوالو تـه ازمویني د روڼتیا په اړه ډاډ ورکړ.

دغـه راز نومـوړي د یـاد سـفر پـر مهـال د اروزګـان لـوړو زده کـړو مؤسسـي څخـه لیدنـه وکـړه او د یـادي مؤسسـي مسـؤلینو تـه یـې د اداري او تدریسـي– چـارو ښـه والي اړوند لازمې سپارښتنې وکړې.

۱۴۴۵/۷/۱۲ هـ ق ۱۴۰۲/۱۱/۴ هـ ش ۲۰۲۴/۱/۲۴ م

# از کاندیدان ۳۸ بست اداری امتحان اخذ شد

از کاندیدان ۳۸ بست اداری وزارت تحصیلات عالی از طی رقابتی آزاد امتحان اخذ گردید.

امتحان بسـت های یادشـده که شـامل ۳۰ بسـت خالی اداری وزارت تحصـیلات عالی و ۸ بسـت اداری پوهنتون پولی تخنیک کابل می گردد توسط کمیته امتحانات وزارت تحصیلات عالی اخذ شد.

مولوی حافظ محمد حامد حسـیب معین مالی و اداری وزارت تحصیلات عالی در مراسم آغاز این آزمون از شفافیت پروسه امتحان به اشتراک کننده گان اطمینان داده گفت که در این امتحان اشخاص مستعد موفق و در بست های یاد شده راه پیدا خواهند کرد.

موصـوف همچنان بیان داشـت داوطلبان زیاد و ظرفیت جذب کم اسـت، امارت اسـلامی در تلاش اسـت تا زمینه فرصت های کاری بیشتر را مساعد سازد.

سپس صـندوق سـوالات امتحان در حضـور داشت نماینده گان رسـانه ها و داوطلبان امتحان توسـط معین مالی و اداری وزارت تحصـیلات عالی، رئیس کمیته امتحانات این وزارت و اعضای کمیته امتحانات باز گردید.

قابل یاد آوری است که در این امتحان بست های چهارم و پنجم شـامل می‌باشـد و از طریق رقابت آزاد زمینه خدمت برای افراد شایسته در این بست ها مهیا می‌گردد.

۱۴۴۵/۷/۱۷ هـ ق ۱۴۰۲/۱۱/۹ هـ ش ۲۰۲۴/۱/۲۹ م

# د مالي او اداري معینیت شورا ناسته وشوه

د لـوړو زده کـړو وزارت مـالي او اداري معینیـت شـورا ناسـته د دغـه وزارت مـالي او اداري معـین پـه مشـرۍ ترسره شوه.

پـه پیـل کـې د لـوړو زده کـړو وزارت مـالي او اداري معـین مولـوي حـافظ محمـد حامـد حسـیب، د دغـه وزارت لـه لـوري د مرکـزي ادارو او امـارتي تحصـیلي بنسـټونو د مـالي او تـدارکاتي چـارو مسـؤلینو لپـاره تـرسره شـوی پنځـه ورځنـی ورکشـاپ لـه لاسـته راوړنـو ډک وبالـه او ویـې ویـل چـې د دې ورکشـاپ لـه لارې د مرکـزي ادارو او دویمـي واحـدونو د مسـؤلینو او کـارکوونکو پوهـه زیاتـه شـوه، او پـه دې سره بـه د دغـه وزارت پـه مـالي او تـدارکاتي فعـالیتونو او پروسـو کـې ډېره روڼتیا او چټکتیا رامنځته شي.

همدارنګـه نومـوړي د علـماء کرامـو راتلـونکي ازمـویني د خرڅـوالي پـه اړه معلومـات ورکـړل او د هغـې د ښـه تـرسراوي پـه پـار یـې د معینیـت شـورا غـړو تـه لازمـې لارښوونې او سپارښتنې وکړې.

وروسـته لـه اجنـډا سره سـم د تېـرې شـورا پرېکـړو تـه لـنډه کتنـه وشـوه او پـه اجنډا کـې شـاملو موضـوعاتو پـه اړه هر اړخیز بحثونه او لازمې پرېکړې وشوې.

۹/۸/۱۴۴۵هـ.ق ۱/۱۲/۱۴۰۲ هـ.ش ۲۰/۲/۲۰۲۴م




## از داوطلبان ۲۸ بست مسلکی شفاخانه های تدریسی امتحان اخذ شد

وزارت تحصیلات عالی برای ۲۸ بست مسلکی شفاخانه های تدریسی پوهنتون علوم طبی کابل از طریق رقابت آزاد امتحان اخذ کرد.

وزارت تحصیلات عالی به هدف سپردن کار به اهل کار، از ۵۰۰ داوطلب برای ۲۸ بست مسلکی شفاخانه های تدریسی میوند، ستوماتولوژی و چشم پوهنتون علوم طبی کابل از طریق رقابت آزاد امتحان اخذ نمود.

مولوی حافظ محمد حامد حسیب معین مالی و اداری وزارت تحصیلات عالی در مراسم افتتاح امتحان یاد شده گفت که ا.ا.ا برای ایجاد فرصت های بیشتر کاری تلاش می کند. نامبرده به شرکت کننده گان از شفافیت امتحان اطمینان داده گفت که در این امتحان اشخاص مستحق کامیاب می شوند.

معین مالی و اداری وزارت تحصیلات عالی همچنان در خطاب به اشتراک کننده گان گفت: «افرادی که در این امتحان کامیاب می شوند، در بخش های صحی کشور خدمت خواهند کرد که از تمام خدمات بهتر است.»

قابل یاد آوری است که با پر شدن این بست ها، بسیاری از مشکلات شفاخانه های تدریسی حل و سهولت های عرضه خدمات بهتر به مردم فراهم خواهد شد.

۱۴۴۵/۸/۱۸ هـ ق ۱۴۰۲/۱۲/۱۰ هـ ش ۲۰۲۴/۲/۲۹ م

## د مالي او اداري معینیت شورا ناسته وشوه

د لوړو زده کړو وزارت مالي او اداري معینیت شورا ناسته د دغه وزارت مالي او اداري معین تر مشرۍ تر سره شوه.

په یاده ناسته کې د لوړو زده کړو وزارت مالي او اداري معین مولوي حافظ محمد حامد حسیب اړوندو رئیسانو ته وویل، چې په راتلونکو پلانونو کې خلکو ته د زیاتو خدمتونو وړاندې کولو زمینه برابره کړي او د خپلو دفترونو دروازې د خلکو پر مخ خلاصې وساتي .

دغه راز نوموړي د شورا له ټولو غړو وغوښتل، چې د تېر کال د کړنو راپور او راتلونکو پلانونو په اړه معلومات راتلونکې شورا ته وړاندې کړي.

ورپسې د تېرې شورا پرېکړو ته لنډه کتنه وشوه او د دغې ناستې له اجنډا سره سم د کابل طبي علومو پوهنتون محصلینو لپاره د لیلیې اضافه ظرفیت، د معتمدینو څخه د نقدي تضمین پر اخیستلو، د کمیونیتي کالج استادانو د حق الزحمې او یو شمېر نورو متفرقه موضوعاتو په اړه د شورا د غړو ترمنځ بحث او لازمې پرېکړې وشوې.

۹/۹/۱۴۴۵ هـ.ق ۲۹/۱۲/۱۴۰۲ هـ.ش ۱۹/۳/۲۰۲۴ م

# دریمه برخه

# د مرکزي ریاستونو رئیسانو د غونډو، سفرونو

# او لیدنو راپورونه


د خصوصي تحصیلي بنسټونو د ستونزو د حل ګډ کمیسیون ناسته وکړه ........ ٤٦

محصلان پوهنتون پولی تخنیک کابل پروژه ها و خلاقیت های خود را به نمایش گذاشتند ........ ٤٦

د حقوقي کلینیکونو مسؤلینو لپاره د ظرفیت لوړوني سمینار جوړ شو........ ٤٧

هیئت ریاست نظارت و ارزیابی وزارت تحصیلات عالی به ولایت ننگرهار سفر کرد ........ ٤٧

## د خصوصي تحصیلي بنسټونو د ستونزو د حل ګډ کمیسیون ناسته وکړه

د خصوصي تحصیلي بنسټونو د ستونزو د حل په موخه د لوړو زده کړو وزارت او خصوصي تحصیلي بنسټونو د ګډ کمیسیون ناسته ترسره شوه.

یاده ناسته د لوړو زده کړو وزارت د تضمین کیفیت او اعتبار ورکولو رئیس استاد شاکر وحیدي په مشرۍ د خصوصي تحصیلي بنسټونو د ستونزو د حل په موخه ترسره شوه، چې د لوړو زده کړو وزارت یو شمېر رئیسانو او د خصوصي تحصیلي بنسټونو استازو پکې ګډون کړی وو.

د ناستې په پیل کې د تضمین کیفیت او اعتبار ورکولو رئیس استاد شاکر وحیدي د یادو ناستو د ګټو او اهمیت په اړه خبرې وکړې او د خصوصي تحصیلي بنسټونو له استازو یې وغوښتل چې د بحث شویو موضوعاتو د تطبیق په برخه کې کار وکړي.

وروسته د اجنډا له مخې د خصوصي تحصیلي بنسټونو د کانکور ازموینې د اخیستلو پر څرنګوالي، د خصوصي تحصیلي بنسټونو ترمنځ د محصلینو د تبدیلۍ، د استادانو د دایمي ګمارنې او ترفیع پر لایحې، د علمي ژورنالونو د جواز اخیستلو او یو لړ نورو موضوعاتو په اړه بحث وشو.

وروسته د خصوصي تحصیلي بنسټونو استازو خپلې غوښتنې او ستونزې د کمیسیون له رئیس سره شریکې کړې، چې د نوموړي له لوري داړ ورکړل شو، چې د دوی غوښتنې به د وزارت له رهبرۍ سره د حل په موخه شریکې کړي.

۱۹/٦/۱۴۴۵ هـ ق ۱۲/۱۰/۱۴۰۲ هـ ش ۲/۱/۲۰۲۴ م

## محصلان پوهنتون پولی تخنیک کابل پروژه ها و خلاقیت های خود را به نمایش گذاشتند

محصلان مبتکر پوهنتون پولی تخنیک کابل پروژه ها و خلاقیت های شان را به نمایش گذاشتند.

محصلان پوهنځی های مختلف پوهنتون پولی تخنیک کابل پروژه ها و ابتکارات شان در رابطه به ساخت هوا پیمای بدون سرنشین (پهباد)، طیاره جیت، جلوگیری از هوای آلوده و زراعت در هماهنگی با ریاست انسجام و خدمات محصلان وزارت تحصیلات عالی ارایه نمودند.

استاد حامد یعقوبی رئیس امور محصلان امارتی این وزارت ضمن ستایش از خلاقیت و ابتکارات این محصلان، آنان را به کار های شان تشویق کرده وعده سپرد که وزارت تحصیلات عالی زمینه کار را به آنان مهیا خواهد کرد.

سپس استاد کلیم الله محمدی رئیس انسجام خدمات محصلان وزارت تحصیلات عالی صحبت کرده گفت، تمام محصلان مبتکر و خلاق نهاد های تحصیلی کشور را گرد آوری نموده، از اختراعات و نوآوری های آنان استفاده خواهند کرد.

محصلان متذکره از تشویق وزارت تحصیلات عالی قدر دانی کرده خواستار فراهم نمودن وسایل بهتر جهت اختراعات و نوآوری های بیشتر گردیدند.

۱۴۴۵/۷/۵هـ ق ۱۴۰۲/۱۰/۲۷هـ ش ۲۰۲۳/۱/۱۷م

# د حقوقي کلینیکونو مسؤلینو لپاره د ظرفیت لوړونې سمینار جوړ شو



دهېواد په مرکز او ولایتونو کې د لوړو زده کړو بنسټونو د حقوقي کلینیکونو د مسوولینو د ظرفیت لوړولو په موخه په کابل پوهنتون کې د محصلانو د خدمتونو د همغږۍ ریاست له خوا درې ورځنی سمینار جوړ شو.

د یاد سمینار د پرانیستې په مراسمو کې د لوړو زده کړو وزارت د محصلانو د خدمتونو د همغږۍ رئیس استاد کلیم الله محمدي د سمینار ګډونوالو ته د ښه راغلاست ویلو تر څنګ د هېواد په تحصیلي بنسټونو کې د حقوقي کلینیکونو پر اهمیت او ارزښت خبرې وکړې.

هغه وویل، حقوقي کلینیکونه د شرعیاتو او حقوقو پوهنځیو د محصلینو د عملي پوهې د کچې د لوړولو لپاره ډېر ګټور دي.

نوموړي همدارنګه د تحصیلي بنسټونو د حقوقي کلینیکونو له مسوولینو وغوښتل، چې محصلینو ته د خدمتونو په وړاندې کولو کې لا زیاتې هڅې وکړي، محصلین په اسلامي او افغاني افکارو او اخلاقو وروزي او ټولنې ته یې وړاندې کړي.

ورپسې د لوړو زده کړو وزارت د دولتي محصلانو چارو رئیس استاد حامد یعقوبي د یاد سمینار پر جوړېدو خوښي څرګنده کړه او د هېواد د تحصیلي بنسټونو محصلینو ته یې د عملي کار د زمینې برابرول مهم وبلل.

هغه وویل: «له هغه وخته چې محصلینو ته د مشورې ورکولو او عملي کار په موخه حقوقي کلینیکونه جوړ شوي، د عملي کار په څانګه کې محصلینو ته د خدمتونو وړاندې کول یوه مهم او اساسي کار دی».

ورپسې د حقوقي ستاژ مرکز مشر استاد نذیر احمد نثار په حقوقي کلینیکونو کې د شاملو موضوعاتو او نصاب په اړه خبرې وکړې او ویې ویل، چې کورنۍ قضیې، متخلف ماشومان او د جزا څانګې هغه برخې دي چې په حقوقي کلینیکونو کې وربانديې بحث کیږي.

۱۴۴۵/۷/۱۰ هـ ق ۱۴۰۲/۱۱/۲ هـ ش ۲۰۲۴/۱/۲۲ م

# هیئت ریاست نظارت و ارزیابی وزارت تحصیلات عالی به ولایت ننگرهار سفر کرد

هیئت ریاست نظارت و ارزیابی وزارت تحصیلات عالی به هدف نظارت و ارزیابی نهاد های تحصیلی خصوصی به ولایت ننگرهار سفرکرد.

هیئت یاد شده به رهبری مولوی احمد الله حماد رئیس نظارت و ارزیابی وزارت تحصیلات عالی به منظور نظارت و ارزیابی عمومی امور اکادمیک نهاد های تحصیلی خصوصی، امور استادان، جریان تدریس محصلان و امکانات موجود در نهاد های یاد شده به این ولایت سفر کرده اند.

قابل ذکر است که وزارت تحصیلات عالی به منظور حل مشکلات و استماع پیشنهادات مسوولان و محصلان و بهبود امور اداری و تحصیلی، نهاد های تحصیلی کشور را مورد نظارت و ارزیابی قرار میدهد.

۱۳/۸/۱۴۴۵ هـ.ق ۵/۱۲/۱۴۰۲ هـ.ش ۲۴/۲/۲۰۲۴ م

# څلورمه برخه

## په ژمي فصل کې د لوړو زده کړو وزارت لاسته راوړنې

- **سفر وزیر تحصیلات عالی به زون شمال کشور**
  - سفر به بغلان.
  - سفر به بلخ.
  - سفر به سمنگان.
  - سفر به جوزجان.
  - سفر به فاریاب.
- اخذ امتحان سرتاسری علمای کرام.
- **دیدار با سفیران کشور های...**
  - ترکیه.
  - چین.
  - جاپان.
- دیدار از موسسه تحصیلات عالی لوگر.
- براگزاری کنفرانس ملی بهبود نهاد های تعلیمی و تحصیلی کشور.
- فراغت ۱۲٦ تن فاضلان از بخش افتا و قضای جامعه عبدالله بن مسعود (رضی الله عنه).
- به هزینه ۲۵,۵ میلیون افغانی دو پروژه در پوهنتون کندهار افتتاح شد.
- فراغت ۳۰۰ تن فاضلان از بخش افتا و قضای جامعه ابراهیم النخعی.
- به هزینه ٦۰ میلیون افغانی ۱۰ پروژه در پوهنتون هلمند افتتاح شد.
- تقرر استادان در جامعات دینی بلخ و کندز.
- تقرراستادان در جامعه دینی هلمند.
- تقرر استادان برای جامعات و تخصصات دینی ننگرهار در پوهنتون ننگرهار.
- کنفرانس بین المللی تغییر اقلیم.
- افتتاح پروژه های مختلف در موسسه تحصیلات عالی میدان وردک سپرده شد.
- تدویر ورکشاپ پنج روزه امور مالی و تدارکاتی.
- ارزیابی اسناد دوره عالمیه علماء کرام در سراسر کشور
- بازنگری و انکشاف نصاب های تحصیلی
- به ارزش ٥ میلیون افغانی چهار پروژه در شفاخانه تدریسی ننگرهار به بهره برداری سپرده شد.
- افتتاح چوک سرک های پوهنتون هرات
- برگزاری آزمون رقابتی بست های اداری ریاست های مرکزی وزارت
- امتحان بست های مسلکی شفاخانه های تدریسی پوهنتون علوم طبی کابل
- تهیه کتاب رهنمود وزارت
- خریداری کمره های فلم برداری و عکاسی به تمام نهادهای تحصیلی امارتی